
International Foundation
for Electoral Systems

د ټاکنيزو سيستمونو نړيوال بنسټ (IFES)

# ټاکنې او روغتيا ساتنه



# ټاکنې او روغتیا ساتنه

**لیکوالان:**

ډاکټر فرناندا بوریل (Fernanda Buril, Ph.D.)

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ د څیړنې برخې ستر مشر

ډاکټر ستافان دارنولف (Staffan Darnolf, Ph.D.)

په نړیواله کچه د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ د ټاکنو تنظیم او عملیاتو ستر سلاکار

ماسټر مولوکین اسیرسا (Muluken Aseresa, M.D.)

د صحي چارو د مدیریت (MSH) ستر تخنیکي سلاکار

**مشر سمون کوونکی:**

اریکا شین (Erica Shein)

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ د روزنې او څیړنې برخې مشر

**سمون کوونکي:**

چاد ویکري (Chad Vickery)

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ د نړیوالې تګلارې او تخنیکي رهبرۍ مرستیال

آنجلا کانټربري (Angela Canterbury)

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ د استراتیژیکو اړیکو او دادغوښتنې مشر

د کرونا ویروس (Covid-19) په اړه د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ لنده معلوماتي بسته: ټاکنې او روغتیا ساتنه: د دغې معلوماتي بستې د چاپ او نشر ټول حقوق د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ (IFES) ته خوندي دي.

**د دغې معلوماتي بستې د ترلاسه کولو اجازه:** د دغې معلوماتي بستې هر راز کارول که په الکترونکي شکل وي او یا هم تخنیکي شکل، کاپي کول، چاپ او بیا نشرول د آیفس اجازې پراته ترسره کېدای نشي.

د اجازې ترلاسه کولو غوښتنلیکونه باید لاندې معلومات ولري:

- د هغه موادو په اړه توضیحات چې کاپی ته یې اړتیا لیدل کیږي؛
- دا مواد په کوم موخه او مقصد او په څه شکل کارول کیږي؛
- د غوښتونکي نوم، دنده، د مؤسسې/سازمان نوم، د تیلیفون شمېره، بریښنایي پته او پُستي پته

په مهربانی سره ټول غوښتنلیکونه باید لاندې پتې ته واستول شي:

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ

2011 Crystal Drive, 10th Floor

Arlington, VA, 22202

بریښنایي پته: editor@ifes.org

د فکس شمېره: 202.350.6701

# منځ پانګې (محتويات)


وړاندوينه ........................................ ۱

مننديونه (قدرداني) ........................................ ۲

اجرايي لنډيز ........................................ ۳

سريزه ........................................ ۶

ټاکنې او روغتيايي بيړني حالات ........................................ ۶

(COVID-19) څه دی؟ ........................................ ۷

د دې لينکې موخه او جوړښت ........................................ ۹

موندنې او مهم وړانديزونه ........................................ ۱۰

د کرونا ويروس (COVID-19) د خپريدو روغتيايي خطرونو د کمولو په اړه عمومي څرګندونې ........................................ ۱۰

روغتيايي چارواکو او نورو اړوندو بنسټونو سره همغږي ........................................ ۱۲

لومړی پړاو: د ټاکنو وړاندې فعاليتونه ........................................ ۱۲

دوهم پړاو: د ټاکنو په ترڅ او وروسته فعاليتونه ........................................ ۲۴

څارنه او د کيفيت کنټرول ........................................ ۲۹

# وړاندوینه

د کروناویروس (COVID-19) له امله رامینځته شوی ناورین، چې په ټوله نړۍ کې خپور دی، د انسانونو د مړینې، اقتصادي چارو د ناسمبالتیا او روغتیایي سیستمونو د کمزورتیا لامل شوی دی. دغه ناورین د ولسواکۍ بهیر هم یو ستونزمن حالت سره مخ کړی دی. د هر اړخیځو ټاکنو انسټیټیوټ V-Dem 2020 2020 د ۲۰۲۰ کال راپور په وینا[1]، په نړدې تیرو دوه لسیزو کې د لومړي ځل لپاره د نړۍ نږدې ۹۲ هیوادونه د زورواکو دولتونو په توګه پیژندل شوي دي. "د زورواکۍ دریمې څپې" حتی هغه سیمې [هیوادونه] هم اغیزمنې کړې چې له ډیرې مودې راهیسې د ولسواک ځواک په توګه پیژندل کیدل. اوس مهال داسې انګیرنه کیږي چې د کروناویروس ناروین د دغو زورواکو لپاره نوي فرصتونه رامینځته کړي وي، چې په دولتي جوړښتونو باندې خپل اغیز پیاوړی او بشري حقونو ته زیان ورسوي.

پدې سختو شرایطو کې، دیره مهمه ده چې دولتي چارواکي، سیاسي ګوندونه، نوماندان، مدني ټولنه او نړیواله ټولنه په ګډه د خلکو او ولسواکو ټولنو د حقونو د خوندیتوب لپاره کار وکړي. ټاکنې پدې برخه کې یو مهم عنصر بلل کیږي، ځکه چې ټاکنې ولسواکه بنسټونه پیاوړي کوي او د قانون حاکمیت تضمینوي. په داسې ناورینونو کې د ټاکنو ناسم مدیریت یا پدې بهیر کې لاسوهنه کولای شي د اوږد مهال لپاره د آزادۍ بنسټ لمنځه یوسي او د ځواک تمرکز او اداري فساد ته زمینه برابره کړي. د ټاکنو چارواکي باید دا ناورین په جدي توګه په پام کې ونیسي او په ګلګه کار وکړي چې په هوډ او روڼتیا سره راتلونکي کړنې پلان کړي. د ځنډ په صورت کې به بیا ډیر ناوخته وي چې د ټاکنو د ځنډولو یا د نیمګړو ټاکنو د ترسره کولو له امله رامنځته شوي خطرونه، چې د خلکو روغتیا او مدني حقونه ګواښوي، را کم کړای شي.

د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ (IFES)، په ټوله نړۍ کې د ټاکنیزو سازمانونو د یوه باوري ملګري یا شریک په توګه ژمن دی چې د سالمو او معتبرو ټاکنو د ترسره کولو په موخه د یاد بنسټونو د پریکړو د څرنګوالي په اړه کره معلومات او تخنیکي مشورې وړاندې کړي. دا لیکنه، چې د عامې روغتیا کارپوهانو په سلا مشورې چمتو شوې، زموږ د دوامداره هڅو محصول ده؛ ترڅو نوې ننګونې ومنو او پر وړاندې یې له خپلو ملګرو سره یو ځای پرمخ ولاړ شو. په ګډه او د تل په څیر به موږ د خنډونو په لرې کولو او د ټولو لپاره د ولسواکۍ د پیاوړتیا لپاره مبارزې ته دوام ورکړو.

انتوني آن. بانبیري، د ټاکنیزو سیستمونو لپاره د نړیوال بنسټ مشر او اجراییه رییس (IFES)

## مننديونه (قدرداني)

د دې ليکنې ليکوالان، د عامه روغتيا په برخه کې د MSH سټر مدير ډاکټر ايلک کوننک (Dr. Elke Konings, M.D.) او د ټاکنيزو بنسټونو نړيوال بنسټ د کار کوونکو هر يو: د اوکراين لپاره د برنامو سلاکار ميرډيت اپيليګېټ (Meredith Applegate)، د نړيوال ګډون ستره سلاکاره ويرجينيا اټکينسن (Virginia Atkinson)، د جندر برنامو ستره آمره جينا چيريلو (Gina Chirillo)، د ګرافيک ډيزاين مسئول کيټن وان بيورن (Keaton Van Beveren) او د اړيکو مسئول جان ډفي (Janine Duffy) څخه د دې ليکنې له بيا کتنې او پدې برخه کې د دوي د ارزښتناکو هڅو د شريکولو له امله د زړه له کومې مننه کوي.

---

د ليکوال يادونه:

د ټاکنيزو سيستمونو نړيوال بنسټ، هڅه کړې ده چې دا ليکنه تر ممکن حده پوري جامع وې او د استفادې ارزښت او اغيز يې په بيلابيلو ټاکنيزو سيستمونو کې وساتل شي. پداسې حال کې چې د يو شمير ځانګړيو وړانديزونو د پلي کولو امکان تر لوې کچې د هر هيواد قانوني چوکاټ پورې اړه لري. همدا راز لازمه ده ترڅو د نوي کروناويروس (COVID-19) د خپريدو او د انسان پر سلامتيا د هغه اغيز په اړه نوي شواهد په پام کې ونيسو. د دې ليکنې وړانديز شوې څرګندونې تر ډيره بريده د کروناويروس په اړه د موجودو معلوماتو پر بنسټ چمتو شوې دې.

که څه هم تمه کيږي چې دا وړانديزونه د عامې روغتيا په اړه د خطرونو کچه تر ډيره بريده راټيټه کړي او په ټاکنو کې د ګډون لپاره د رأيې ورکوونکو او ټاکنيزو چارواکو د باور کچه اوچته کړي؛ خو بيلابيلې پيښې بيا بيلابيل ګواښونه رامينځته کوي. ښايي د مخامخ (حضوری) ټاکنو ترسره کول تل غوره انتخاب نه وي. د ټاکنو ترسره کولو يا نه ترسره کولو اړوند فعاليتونو د انجام لپاره بايد د عامې روغتيا له مسئولينو سره يو ځای د خطرونو يوه جامع ارزونه ترسره شي. څرنګه چې ټاکنې په طبيعې ډول يوه سياسي پيښه ده، نو د روغتيايي ناورين په ترڅ کې د ټاکنو ترسره کولو لپاره د يو هيواد پريکړه به د سياسي ګوندونو او مدني ټولنې سره د سلا مشورې او د خطرونو په پام کې نيولو پر بنسټ، يوه بريالۍ پريکړه وي.

## سرلیک

نه یوازې دا چې د ټاکنو په ورځ، بلکې د ټاکنیزو مبارزو او د رأیې ورکوونکو د نوم لیکنې بهیر په ترځ کې د خلکو د راټولیدو سترې او پراخې پیښې جوړیږي چې دا راز پیښې یو بل سره د مستقیم تماس او د ناروغۍ د خپریدو خطر زیاتوي.  د ټاکنو د تنظیم یو محدود شمیر بنسټونه (EMBs) د دغه راز پیښو پرمهال د فعالیتونو د ترسره کولو لپاره جامع پلانونه لري؛ خو د کروناویروس (COVID-19) په راڅرګندېدو سره، دا ثابته شوه چې د عامه روغتیا ناورین ناڅاپي پیل سره، دا بنسټونه هم د خوندي ټاکنو د ترسره کولو په موخه د فعالیتونو د تنظیم او جوړ چارې لپاره د وخت، سرچینو او معلوماتو له محدودیتونو سره مخ دي.  څرنګه چې تر دې دمه، د نوي کروناویروس له امله ناروغۍ د نړۍ نږدې ۶۰  هیوادونه او خپلواکې اداري[۱] دې ته اړ کړې چې خپلې ملي او محلي ټاکنې وځنډوي.  ډیری ټاکنیزو بنسټونو چې د ناورین په وخت کې د ټاکنو ترسره کیدو پریکړه کړې، روغتیایي اندیښنو[۲] ته د پام نیولو په اړه له جدي خنډونو سره مخ شوي دي؛ همداراز یو شمیر نورې ستونزې له د رایې ورکوونکو د شمیر کموالی، د ټاکنو اعتبار، د کارکوونکو د دندو پرېښودل او حتي د ځینو چارواکو[۳] ناروغ کیدل په ګوته شوي دي.

پداسې حال کې چې د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ د نړۍ په کچه د داسې پیچلې حالتونو په ترځ کې د ټاکنو د تنظیم بنسټونو سره ملاتړ ته ژمن دی؛ دا لیکنه یې د MSH په همکارۍ د ټاکنو بهیر په ترځ کې د کروناویروس (COVID-19) د خطرونو د راکمولو په اړه څرګندونو او وړاندیزونه لپاره چمتو کړې ده.  پدې معتبره لیکنه کې وړاندیز شوې څرګندونې د معتبرو روغتیایي بنسټونو لکه د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) او د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي لپاره د امریکا متحده ایالاتو مرکز (CDC) د عمومي لارښودونو په بنسټ او همدا راز د وروستیو ساینسي شواهدو او څیړنو، د ټاکنیزو بنسټونو د غوره میتودونه او بریالیو کړنو په پام کې نیولو سره، چمتو شوې دي.

## د ستونځې روښانه کول

دا چې د ټاکنو د تنظیم اداري د امکاناتو د ترلاسه کولو او د ټاکنو په بیلابیلو پړاونو کې د نویو روشونو د کارولو لپاره منابعو او وخت ته اړتیا لري، نو لازمه ده ترڅو د کروناویروس د خطرونو د کمولو لپاره هڅې د یوې جامعې تګلارې یوه برخه وګرځي؛ ترڅو د منابعو معقول او مناسب کارول ډاډمن کړي.  په سمه توګه د یادو اقداماتو پلي کول د کروناویروس د خپریدو او د ټاکنو بهیر بیلابیلو پړاونو کې په دې ویروس د خلکو اخته کیدو څخه د ډار کچه ډیره راټیټوي.  پرته لدې بنایې د رایې ورکوونکو د ګډون کچه په چټکۍ سره راټیټ شي او د ټاکنو د پایلو مشروعیت تر پوښتنې لاندې راشي.

دا باید په یاد وساتل شي چې پدې لیکنه کې وړاندیز شوې څرګندونې د عامې روغتیا په اړه خطرونه تر ډیره بریده راکموي او د رایې ورکوونکو او ټاکنیزو چارواکو باور زیاتوي؛ خو بیلابیل وضعیتونه مختلف ګواښونه رامینځته کوي او مخامخ ټاکنې تل د امکان تر ټولو غوره لاره نه وي.  د بیلابیلو ټاکنیزو فعالیتونو د ترسره کولو د څرنګوالي په اړه پریکړه به هله بریالۍ وي چې:

- د ټاکنو د تنظیم اداري اړوندو روغتیایي چارواکو سره په همغږۍ د خطرونو د هر اړخیزو ارزونو څخه خبر و اوسئ؛
- د سیاسي ګوندونو او مدني ټولنې نظرونو ته - چې د هیواد په ټاکنیزو حوزو کې د رایې ورکونکو د پراخې برخې استازیتوب کوي - پام وشي؛ او
- د ټاکنو د ترسره کولو په ترځ کې د ټولو خطرونو په هکله کډ پوهاوی موجود وي.

د روغتیا نړیوال سازمان[۴] (WHO) او د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي لپاره د امریکا متحده ایالاتو مرکز[۵] (CDC) لخوا د خپرو شویو شواهدو له مخې، د کرونا ویروس (COVID-19) اصلاً د تنفس [څاڅکو] له لارې له یو کس نه بل کس ته انتقالیږي؛ خو دا ویروس په غیر مستقیم ډول هم خپریدلی شي؛ یعنې کله چې په ویروس ککړ توکو او وسایلو باندې لاس و وهل شي. د ټاکنو په بهیر کې شاوخوا ۴۰ څخه ډیر داسې ځایونه او وسایل شته چې هلته د خلکو د راټولیدو او وسایلو سره د تماس امکان ډیر دي. ځکه نو د وقایوي تدابیرو نه په پام کې نیول د ویروس خپریدو خطر زیاتوي. د خلکو دا ډول عادیراټولیدل او په توکو او وسایلو لاس وهل یوازې د ټاکنو ورځ پورې محدود ندي بلکې د ټاکنیز څرخ ټولو پړاونو په ترڅ کې ترسره کیږي. د کروناویروس خپریدو د ځانګړو لارو په پام کې نیولو سره، باید په ټولو ټاکنیزو فعالیتونو کې لاندې وړاندیزونه په پام کې ونیول شي:

- **د عامې روغتیا چارواکو سره د اړیکو او همغږۍ رامینځته کول:** د خطرونه د ارزونې، پلان جوړونې، پریکړه کولو او د خطرونو د راکمولو په موخه د اغیزمنو تګلارو د پلي کولو لپاره باید همغږي رامینځته شي؛
- **د یو کس له بل کس سره د تماس مخه ونیول شي یا له یو بل سره تماس کم شي:** لکه د خوندي فیزیکي واټن په پام کې نیول، د تنفسي حفظ الصحې ساتنه، د ځان ساتنې وسایلو کارول او د امکان په صورت کې د لرې واټن خوندې میکانیزمونو کارول؛
- **د عادي وسایلو او سطحو د منتن کیدو څخه مخنیوی یا د هغه راکمول:** د ځان ساتنې توکو کارول لکه ماسک او نور اړین وسایل او د امکان په صورت کې د تماس پرته میکانیزمونو کارول؛
- **منتنو وسایلو او سطحو سره د تماس څخه مخنیوی یا د هغه راکمول:** په اوبو او صابون یا الکول لرونکي محلول سره د لاسونو مینځلو ته د خلکو هڅول؛ خوله، پوزې او سترګو کې د لاس وهلو نه ډډه کول؛ په دوامداره توګه د سطحو او توکو پاکول؛ شخصي خوندیتوب ته پام کول او د امکان په صورت کې د تماس نه پرته میکانیزمونو کارول.

سربیره پر دغو ممو اقداماتو، د ټاکنو د تنظیم اداري باید د ټاکنیزو فعالیتونو د ترسره کولو په ترڅ کې لاندې وړاندیزونه په پام کې ونیسئ.

*۱ چوکاټ: د ټاکنیزو فعالیتونو د ترسره کولو په اړه څرګندونې*

| ټاکنیز فعالیتونه | اضافي څرګندونې |
|---|---|
| د ټاکنو پلانول او سرچینې | که چیرې ټاکنې ځنډول کیږي نو پدې صورت کې د قانون اصولو د رعایت څخه ډاډ ترلاسه شي؛ د نویو ټاکنو د ترسره کولو لپاره تر ټولو نږدې نیټه په پام کې ونیول شي او په بودیجې او د ټاکنو عملیاتي محال ویش کې د اړینو بدلونونو د رامینځته کولو لپاره یوه طرح وړاندې شي او پدې اړه تازه معلومات په دوامداره توګه له خلکو سره شریک کړای شي. |
| | د ټاکنو پلان جوړولو په جریان کې د ناروغۍ کچه او پراخوالی، د روغتیایي سیستم جوړښت او پیاوړتیا او د هوا وضعیت په پام کې ونیول شي. |
| | د ناروغۍ خپریدو د خطر کمولو لپاره دې کړنلارې تنظیم شئ؛ اضافي مواد، توکي او وسایل دې برابر شئ؛ ډیر کار کوونکي دې وګمارل شئ او د تدارکاتو پر وړاندې احتمالي خنډونه دې په ګوته شئ. |
| | د وسایلو او توکو د اکمالاتو او د کارکوونکو د استخدام لپاره دې مالي منابعې خوندي شي؛ د منابعو د معقول او مناسب کارولو لپاره دې لومړیتوبونه په ګوته شي. |
| | د کروناویروس (COVID-19) په اړه خبرداری او لارښوونې دې د سیاسي ګوندونو، نوماندانو، مدني ټولنو او رسنیو په کچه پراخې شي؛ د COVID-19 موضوع دې د موجودو چارچلند اصولو کې شامل کړای شي یا پدې اړه د چارچلند نوي اصول جوړ شئ. |

| | |
|---|---|
| **ټاکنیزې مبارزې** | هغه کسان چې د سیاسي ګټو لپاره د کروناویروس په اړه غلط معلومات خپروې په ګوته او تحریم شي. |
| | په عامه غونډو، مناظرو او نورو ټولنو کې د احتیاطي ګامونو اخیستو لپاره لارښوونې چمتو شي. |
| | رسنیو ته دې عادلانه لاسرسی برابر او د لارې واټن څخه د کمپاینونو ترسره کولو روشونه دې جوړ او پراختیا ورکړل شي. |
| **د رأیې ورکوونکو روزنه** | رأیې ورکوونکو ته د کروناویروس خپریدو او هغه سره د مبارزې لارو چارو په هکله دې خلکو ته واضح او دوامداره معلومات ورکړل شي؛ پدې اړه د نویو روغتیایي مقالو غوره تمرینونه تعقیب شي (د معلوماتو ورکولو لپاره لنډ غګیز پیغامونه جوړ شي او د ټولنې دود سره برابر د انځورونو څخه کار واخستل شي). |
| | د نویو ټاکنیزو کړنلارو او د هغو د پلې کیدو په اړه روښانه او پر له پسې معلومات د خلکو په واک کې ورکړل شي. |
| | د ناروغۍ په اړه ناسم معلومات او د تجرید شویو ډلو پر ضد زړه بوګنوکې څرګندونې دې په ګوته شي. |
| **د رأیې اچونې د محل او نورو ټاکنیزو کارکوونکو استخدام او روزنه** | د امکان په صورت کې د کار غوښتونکو د غوښتن لیکونو ترلاسه کولو او بیاکتنې لپاره آنلاین فرصتونه برابر شي؛ مرکه کوونکي او مرکچیان وهڅول شي ترڅو د حضوري مرکو په ترڅ کې د لاس وینځلو د تعقیم موادو څخه استفاده وکړي او ماسک وکاروي؛ د خویندي فیزیکي واټن د رعایت کولو لپاره دې پراخ ځایونه غوره شي. |
| | زیان منونکي کسان او روغتیایي کارکوونکي دې په استثنایي ډول د رأیې اچونې په محلاتو کې د کار څخه معاف شي. |
| | د کروناویروس په ځانګړي ډول د هغه خپریدو او وقایوي تدابیرو په اړه معلومات دې د ټاکنو په روزنیزو موادو کې شامل کړای شي. |
| | د کروناویروس په اړه لارښوونې دې په نویو جوړو شویو کړنلارو کې شاملې شي. |
| | د خوندي فیزیکي واټن د ساتلو لپاره دې پراخ ځایونه غوره شي؛ په روزنیزو برنامو کې د برخه اخیستونکو لپاره د لاسو مینځلو او شخصي خوندي ساتنې وسایلو اړوند لارښوونې د جوړیدو څخه ډاډ ترلاسه شي. |
| | د لرې واټن او آنلاین روزنیزو برنامو د جوړیدو او هغو ته د لاسرسي درلودلو څخه دې ډاډ ترلاسه شي. |
| | د آنلاین روزنیزو برنامو د بریالي بشپړیدو څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره میکانیزمونه جوړ شي. |
| | د رأیې اچونې لپاره باید د زیان منونکو ډلو د استوګنې سیمو څخه لرې په پراخو ودانیو کې ځای غوره شي ترڅو خوندي فیزیکي واټن په پام کې ونیول شي؛ همدا راز په ټاکنو کې د زیان منونکو کسانو د ګډون لپاره دې هم غوره لارې په پام کې ونیول شي. |
| | د رأیې اچونې په محل کې دې د رأیې ورکوونکو شمیر کم کړای شي؛ د محلاتو شمیر او د رأیې ورکونې ورځې دې زیاتې شي او د رأیې ورکونکو ځانګړې ډلې (معلولین) دې په بیلابیلو وختونو کې تنظیم کړای شي. |

| | |
|---|---|
| **د رأیې ورکوونکو او نوماندانو نوم لیکنه، رأیه ورکونه، د رأیو شمیرنه او د پایلو مدریت** | محل ته د ننوتلو او راوتلو په لارو او قطارونو کې د کروناویروس خطر د راکمولو لپاره لاربښونې پلې شي. |
| | د کروناویروس په اړه معلومات دې خلکو ته په روښانه شکل وښودل شي. |
| | د لاسونو تعقیمولو لپاره دې کافي ځایونه برابر شي. |
| | رأیې ورکوونکې دې د خپلو قلمونو راوړلو او کارولو ته و هڅول شي. |
| | د هویت تصدیق کولو لپاره د لاس وهلو پرته یو تفاهم لیک جوړ شي. |
| | د فیزیکي واټن په رعایت کولو سره دې د فورمونو د ډکو لپاره ځانګړي ځایونه چمتو شي. |
| | د فیزیکي واټن په پام کې نیولو سره دې د ټاکنو چارواکو، څارونکو، د ګوندونو استازو او رسنیو لپاره میزونه او څوکۍ تنظیم شي. اوږدې څوکۍ (څو نفره څوکۍ) او غیر ضروري وسایل دې له محلونو څخه لرې کړای شي؛ د میزونو، د رأیې اچونې غرفو او د چارواکو او د رأیې ورکوونکو ترمینځ د تماس سیمې دې د شیشیه‌يي دیوالونو په ذریعه سره جلا شي. |
| | د وسایلو جوړونکو او پیریدونکو سره دې تماس ونیول شي چې د وسایلو د پاکولو او تعقیم لپاره لازمې لاربښوونې په پام کې ونیسي. |
| | یو ځل مصرفه او له کاره وتلي توکي دې په خوندي ډول راټول او له مینځه یوړل شي. |
| | د امکان په صورت کې د رالیږل شویو مکتوبونو او د رأی پاڼو لپاره دې چیچنې پاکټونه وکارول شي. |
| | ډاډ دې ترلاسه شي چې آنلاین مواد جامع او د لاسرسي وړ دي. |
| **ملي او نړیوال څارونکي او د سیاسي ګوندونو استازي** | که څه هم هیڅ مستحق کس باید د ټاکنو بهیر په جریان کې د کتونکي په توګه د خدمت کولو څخه منع نه شي، خو په استثنایي بیړني حالاتو لکه د عامې روغتیا ناورین په ترڅ کې، زیان منونکي کسان او د عامې روغتیا کارکوونکي دې د څارونکو یا سیاسي ګوندونو د استازو په توګه له کار کولو څخه معاف کړای شي او دوی دې د خپل ګډون له امله د خطرونو د رامینځته کیدلو په اړه خبر کړای شي. |
| | د باور لیک صادرولو بهیر لپاره دې، د رایې ورکوونکو او نوماندوانو د نوم لیکنې بهیر په څیر، ورته ګامونه پورته شي. |

## سرلیک

نه یوازې دا چې د ټاکنو په ورځ، بلکې د ټاکنیزو مبارزو او د رأیې ورکوونکو د نوم لیکنې بهیر په ترڅ کې د خلکو د راټولیدو ستړې او پراخې پیښې جوړیږي چې دا راز پیښې یو بل سره د مستقیم تماس او د ناروغۍ د خپریدو خطر زیاتوي. د ناروغۍ د خپریدو په وخت کې د دا ډول پیښو په لاره اچول کولای شي د عامې روغتیا


لپاره جدي خطرونه رامینځته کړي. همدراز د ټاکنو په ترسره کولو کې پاتې راتلل هم کولای شي د ولسواکو ادارو ټینګښت او پر هغو باور زیانمن کړي. حکومتي چارواکي چې ورته ستونزو سره مخ دي د ټاکنو ترسره کولو یا نه ترسره کولو په اړه پریکړو کې له ننګونو سره مخ دي. که چیرې دوی مخ پر وړاندې ځي، نو د ټاکنو پر وړاندې نویو ننګونو ته چې د ناروغۍ د خپریدو له امله رامینځته کیږي، ژر تر ژره ځواب و وایي. ښایي چارواکي دې ته اړ شي چې د ټاکنو محال ویش له سره تنظیم کړي، د ویروس خپریدو امکان د کمولو لپاره نوي او پرمختللي میتودونه پلي کړي، پیسې خوندي کړي او د اړتیا وړ مواد چمتو کړي. همداراز دوی باید له خپلو کاري ملګرو سره همغږي شي چې په سیاسي کچه د ټولو بدلونونه د منلو څخه ډاډ ترلاسه شي؛ ځکه چې د سلا مشورو پر بنسټ د ټاکنو بهیر کې د بدلون راوستلو په اړه پریکړې به په قوی احتمال سره بریالې او د منلو وړ وي.

## ټاکنې او روغتیایي بیړني حالات

د روغتیا نړیوال سازمان د عامې روغتیا بیړني حالتونه داسې تعریف کړي دي: "د اپیډیمې یا پانډیمې په شکل د بیولوژیکي تروریزم له امله د یوې پیښیدونکې ناروغۍ تهدید یا رامینځته کیدل دي چې روغتیایي حالت له ګواښ سره مخ کوي؛ عامل یې یو وژونکی انتان وي چې انساني ژوند ته ګواښ بلل کیږي او د اوږد محاله او دایمي معلولیت لامل ګرځي"[6]. د عامې روغتیا ناورین د مدیریت شنونکي هم په پیچلي حالت کې د پریکړې روښانه کولو لپاره د ناورین جامع تعریف کاروي: "ناورین د یو سیستم لومړني جوړښتونو یا اساسي ارزښتونو او نورمونو لپاره یو جدي ګواښ دی او د وقت تر فشار لاندې او په بې ثباته شرایطو کې یوه جدي پریکړې کولو ته اړتیا لري."[7] د داسې پریکړو نیول نه یوازې د یو هیواد روغتیا ساتنې سیستم پورې تړاو لري بلکه د ټولو فعالیتونو په اړه هم نیول کیږي کوم چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د وضعیت په خرابیدو کې ونډه لري او په خلکو او سیستمونو د اضافي بار سبب ګرځي.

"... د عامې روغتیا ناورین په شتون کې هم د ټاکنو د ترسره کولو امکان شته خو له وړاندې کړکیچن حالت د لا خرابیدو د مخنیوي په موخه کره پلان جوړونې ته اړتیا ده."

څرنکه چې ټاکنې او د ټاکنو اړوند فعالیتونه تر ډیره بریده پراخو غونډو ته اړتیا لري، نو دا امر کولای شي چې د ناروغۍ د مستقیم (له یو کس نه بل کس ته) او یا غیر مستقم خپریدو امکان زیات کړي. د خطرونو کمولو لپاره د مناسبې عملي تګلارې د شتون پرته، کیدای شي د ټاکنو بهیر د پیښو د زیاتوالي لامل شي؛ او د روغتیا سیستم اضافه بار کړي؛ آن دا چې د سیستم د بندش یا سقوط سبب شي. ځینې هیوادونه پدې توانیدلي چې د ورته ننګونو په شتون کې هم خورا بریالي ټاکنې ترسره کړي. د بیلګې په توګه د امریکا متحده ایالاتو د ۱۹۱۸ کال د اسپانوي انفلونزا[۸] ناروغۍ په دوران کې، لایبریا په کال ۲۰۱۴ د ایبولا[۹] د خپریدو په جریان کې او په دې وروستیو کې سویلي کوریا د اوسني کروناویروس[۱۰](COVID-19) په شتون کې بریالې ټاکنې ترسره کړې. دې هیوادونو ښودلې چې د عامې روغتیا د کړکیچونو سره سره د ټاکنو ترسره کیدل ممکن دي، خو له وړاندې کړکیچن حالت د لا خرابیدو د مخنیوي لپاره کره پلان جوړونې ته اړتیا شته.



د ۲۰۱۹ کال د کروناویروس له امله د ناروغۍ مخفف دي. COVID-19 یو ډول انتاني ناروغۍ ده چې د کروناویروس (SARS-CoV-2) له امله رامینځته شوې، کوم چې په لومړي ځل د ۲۰۱۹ کال په وروستیو کې په انسانانو کې کشف شو. داسې انګیرل کیږي چې ویروس لومړی ځل په چین کې د هوبي ولایت په مرکز واهان کې د سمندري حیواناتو او چرګانو د پیریدو په مارکېټ کې د پانګولینز[۱۱] خفاش په واسطه انسانانو ته لیږدول شوی وي. دا ناروغۍ په چټکۍ سره په ټوله نړۍ کې خپره شوې او د روغتیا نړیوال سازمان[۱۲] لخوا د ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۱۱ مه نیټه د نړۍ په کچه د یوې پاندیمې په توګه وپیژندل شوه.

د دې لیکنې پر مهال د نړۍ په کچه د کروناویروس (COVID-19) نږدې څلور میلیونه قضیې په ۲۱۲ هیوادونو کې ثبت او تایید شوي چې لدې جملې نه ۲۷۰,۰۰۰ څخه ډیرو خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

د روغتیا نړیوال سازمان په وینا[۱۳]، په کروناویروس اخته کسانو ښکاره نښې عبارت دې له تبې، ټوخی، د ساه لنډې یا تنفسي ستونزې. د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي لپاره د امریکا متحده ایالاتو مرکز[۱۴] (CDC) بیا د عضلاتو درد، سردردي، د ستوني دردونه، ریږدیدل او د خوند او بوی له لاسه ورکول هم د COVID-19 احتمالي نښانې بللې دي.

که څه هم پدې اړه ارقام په بیلابیلو څیړنو کې توپیر لري، داسې انګیرل کیږي چې د نوي کروناویروس باندې اخته شوي لویه سلنه کسان د ناروغۍ هیڅ نښې و نه لري یا یوازې خفیفې نښې ولري. شواهدو په ګوته کړې چې حتي هغه کسان چې د ناروغۍ هیڅ ډول نښې نښانې نلري او یا خفیفې نښې لري- د ناروغۍ د ښکاره کیدو نه یو څو ورځې وړاندې هم ناروغۍ بل کس ته لیږدولی[۱۵] شي. همدا راز د دې امکان هم موجود دی چې په کروناویروس اخته کسان چې د ناروغۍ هیڅ ډول نښې نښانې و نلرې خو آزمونیه یې مثبته وې د یو "پټ لیږدونکي"[۱۶] په توګه عمل وکړې؛ چې د دې ویروس دا راز خصوصیت د ناروغۍ خطرونو د راکمولو تګلارې پیچلې کړي دي. شواهدو دا هم څرګنده کړې ده چې د SARS CoV-2 ویروس له اخته کیدو بیا د نښو نښانو تر ښکاره کیدو موده له دوه څخه تر ۱۴ ورځو پورې غځیږي[۱۷].

په سختو حالتونو کې انتان کولای شي د سږو پړسوب (شدید سینه بغل)، تنفسي رنځ سنډوم او حتی د مړینې لامل شي. زاړه کسان او هغه خلک چې د جدي روغتیایي شرایطو سره مخ دي، د دې ناروغۍ ترټولو زیان منونکي او جدي خطر سره مخ کسان دي[۱۸]. که څه هم د واکسین ترلاسه کولو یا د کروناویروس درملنې لپاره څو کلینیکي آزموینې رواني دي خو د دغې لیکنې خپرولو پر وخت د یادې ناروغۍ لپاره کوم واکسین یا تصویب شوې درملنه نده ترلاسه شوې.

## د خپریدو څرنګوالی

د روغتیا نړیوال سازمان[۱۹] (WHO) او د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي لپاره د امریکا متحده ایالاتو مرکز[۲۰] (CDC) د شواهدو پر بنسټ، د کروناویروس د خپریدو اصلي لاره د فیزیکي نږدې واټن پر وخت کې د یو کس بل کس سره تماس دی. ویروس کولای شي د خولې، پوزې او یا ښایې د سترګو له لارې د تنفسي څاڅکو په ذریعه (د ټوخی، پرنجیا یا خبرو) په وخت کې له یو کس نه د بل کس بدن ته دننه شي. د کروناویروس دا ډول طبیعت دغه ناروغۍ د ایبولا په پرتله کوم چې په عمده ډول د بدن د مایعاتو لکه خولې، کانګې او وینې له لارې خپریږي، خورا یوه ساري ناروغۍ په ګوته کړې ده.

کروناویروس د غیر مستقیم تماس له لارې هم خپریدلی شي؛ وروسته له هغه چې یو کس په ویروس ککړ یو توکي یا سطحې ته لاس وو وړي او بیا خپل لاس په خولې، پوزې او یا هم په سترګو و وهې نو ویروس د هغه بدن ته دننه کیږي. د ټاکنو چاړواکو، رأیې ورکوونکو، نوماندانو او څارونکو ترمینځ د اسنادو، فورمونو او نورو توکو د راکړه ورکړه او د عادې وسایلو لکه د ګوتو نښان ماشین او یا د رأیې ورکولو دستګاوې د کارولو له امله، د غیر مستقیم خپریدو خطرونه ډیر واضح دي او باید په جدي ډول په پام کې ونیول شي.

پر بیلابیلو توکو د کروناویروس SARS-CoV-2 یا COVID-19 د ژوند دوام د موادو نوعیت پورې اړه لري لکه څنګه چې لاندې جدول کې ښودل شوي[۲۱]:

۲ شکل: پر هره ماده کې د کروناویروس د دوام موده

| ماده | د شیانو مثالونه | د دوام موده |
|---|---|---|
| المونيم | فلزي قوطي او د دروازو دستګيرونه | ۲ - ۸ ساعته |
| د کارتن تختې | د رأيې ورکوني صندوقونه او غرفې | ۲۴ ساعته |
| سيراميک | کاشي تيري، دستشوی او کمودونه | ۵ ورځې |
| د زنګ ضد مس | پايپ لاينونه او برقي وسايل | ۴ ساعته |
| شيشې | کړکۍ، شيشې او محافظتي پردې | له ۵ ورځو زيات |
| رابړ | طبي (جراحي) دستکشې | له ۸ ساعتونه لږ |
| فلز | د دروازو قلفک او کړکۍ | ۵ ورځې |
| کاغذ | رأيې پاڼې، د رأيې پاڼو صندوقونه، فورمې او پيژند کارتونه | ۱ - ۵ ورځې |
| پلاستيک | سوچ بوردونه، لمسي لارښونې او قلمونه | له ۵ ورځو کم |
| د زنګ په مقابل کې مقاوم فلزونه | د آبو شيردان او آبرونه | ۴۸ ساعته |
| لرګي | ميز، څوکۍ، دروازې او کتارې | ۴ ورځې |

د .kampf G, Todt D, Pfaender S, Steinmann E معلوماتو پر بنسټ

## موخه او جوړښت

دا ليکنه چې د ټاکنو شنونکو او عامې روغتيا کارپوهانو تجربې منعکس کوي، پدې موخه چمتو شوې چې د روغتيايي ناورينونو په جريان کې او په ځانګړي توګه د کروناويروس (COVID-19) د ناروغۍ پرمهال د ټاکنو د لا ښه تنظيم او پلان کولو لپاره له ټاکنيزو بنسټونو سره ملاتړ وشي. د دې ليکنې موخه نه يوازې د رايې ورکوونکو او ټاکنيزو چارواکو روغتيا پر وړاندې د خطرونه راکمول دي، بلکې د ډيموکراتيک بهير پر وړاندې د احتمالي خطرونو راکمول هم دي چې د ټاکنو د ځنډيدو او يا لغوه کيدو لامل ګرځي او کيدای شي د دقيقو پلان جوړولو له لارې له هغو نه مخنيوی و شي. د لاندې کړنو په ترسره کولو سره کيدای شي د خطرونو کچه راټيټه شي:

- د ټاکنو تنظيم ادارو لپاره د داسې يو چوکاټ جوړول چې د ټاکنو بهير په بيلابيلو پړاونو کې د عامې روغتيا په اړه غور وکړي.
- د عامې روغتيا پر وړاندې ننګونې په ځانګړې ډول د هغو ننګونو د نوعيت او ماهيت په اړه بحث وشي چې د کروناويروس له امله د ټاکنو په جريان کې رامينځته کيږي؛
- د مشروع ټاکنو لپاره د ځانګړيو فعاليتونو په جريان کې د عامې روغتيا خطرونو کمولو لپاره وړانديزونه او تګلارې په ګوته شي؛
- د خطرونو راکمولو د تګلارې پلي کولو لپاره سرچينې او اړين تدارکات په ګوته شي؛ او
- د وړانديز شويو تګلارو پلي کولو د کيفيت سنجش او څارنې لپاره لنډمهاله ميتودونه جوړ شي.

دا لیکنه عمومي وړاندیزونو سره چې د ټاکنو په ټولو فعالیتونو کې باید په پام کې ونیول شي، پیل کیږي او بیا د ټاکنو بهیر د بیلابیلو پړاونو د فعالیتونو لکه د ټاکنو وړاندې، د ټاکنو ورځ او د ټاکنو وروسته فعالیتونه لپاره ځانګړې څرګندونې وړاندې کوي. لیکنه د وړاندیزونو د پلي کیدو پایلو د ارزونې لپاره د احتمالي روشونو په وړاندې کولو سره پای ته رسیږي.

**له ټاکنو وړاندې فعالیتونه**

**د ټاکنو ورځ او ټاکنو وروسته فعالیتونه**

- د ټاکنو پلان جوړونه او منابعې
- د نوماندانو نوم لیکنه
- ټاکنیزې مبارزې
- د رأیې ورکوونکو روزنه
- د رأیې ورکوونکو نوم لیکنه
- د رأیې اچونې محلاتو د کارکوونکو استخدام او روزنه
- ملي او نړیوالو څارونکو او د سیاسي ګوندونو استازو ته د باور لیک صادرول

- د رأیې اچونې مرکزونو عملیات
- د رأیو شمیرنه او د پایلو مدیریت

## موندنې او مهم وړاندیزونه

### د کروناویروس (COVID-19) خپریدو د روغتیایي خطرونو د کمولو په اړه عمومي څرګندونې

د ټاکنو په بیلابیلو پړاونو کې د خلکو تر مینځ مستقیم تماس رامینځته کیږي چې دا کار د کروناویروس د خپریدو لامل ګرځي. د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ (IFES) یو تحلیل چې د ایبولا خپریدو پر وخت کې په لایبیریا کې جوړ شوی دا په ډاګه کوي چې د ټاکنو بهیر په ترڅ کې له ۴۰ څخه ډیر پړاونه، ځایونه او وسایل شته چې د ویروس د خپریدو خطر زیاتوي. همدا راز تماسونه یوازې د ټاکنو ورځ پورې محدود ندي بلکې د ټاکنو په ټولو پړاونو کې ترسره کیږي.

د کروناویروس د خپریدو ځانګړو طریقو ته په پام سره، ټول هغه لارښوونې او وړاندیزونه چې په لاندې برخو کې پرې بحث شوي، د لاندې مقاصدو لپاره کارول کیږي:

- د یو کس بل کس سره د تماس مخنیوی یا کمول؛
- عادي وسایلو او توکو سره په ویروس اخته کسانو د تماس مخنیوی یا کمول؛ او
- په ویروس ککړو شیانو سره د خلکو د تماس څخه مخنیوی یا کمول.

د یادونې ده چې چارواکي باید د ټاکنو فعالیتونه په پراخه کچه پلان کړئ او موخه یې د پورتنیو اهدافو ترلاسه کول وي؛ ځکه چې احتیاطي اقدامات د خطرونو کچه راټیټوي. په داسې حال کې چې د ټاکنو د تنظیم اداري د ټاکنو بیلابیلو پړاونو لپاره د وسایلو چمتو کولو او نویو کړنلارو د عملي کولو لپاره محدود وخت او سرچینې لري؛

نو لدې امله، دا اړینه ده چې د خطر راکمولو هڅې د سرچینو د معقول کارونې لپاره د هراړخیزې تګلارې یوې برخې په توګه د COVID-19 خطر ارزونې په جریان کې وپېژندل شي.  دا اقدامات کولای شي د کروناویروس د خپریدو خطر د پام وړ کچې ته راټیټ کړي او د ټاکنو په ترڅ کې په ویروس د اخته کېدلو په اړه د خلکو د اندیښنې هم لرې شي؛ خو پدې شرط چې دا اقدامات په سمه توګه تفعیم او عملي شي؛ که نه نو، د رایې ورکوونکو د ګډون کچه به په بې سارې توګه راټیټه او د پایلو مشروعیت به تر پوښتنې لاندې راوړل شي.

"اړینه خو دا ده چې د خطر راکمولو هڅې د سرچینو د معقولې کارونې لپاره د هراړخیزې تګلارې د یوې برخې په توګه د COVID-19 خطر د ارزونې په ترڅ کې وپېژندل شي."

## د یو کس بل کس سره د تماس نه مخنیوی یا راکول

د COVID-19 د خپریدو خطر د راکمولو یوازینې ساده او خوندې لار د خلکو ترمینځ د فزیکې واټن رعایت کول دي؛ تر ټولو معقول چلند **" نورو سره د تماس څخه ډډه کول او د فزیکي واټن ساتل"** په ګوته شوي دي.  اړین واټن ساتل د ویروس خپریدو کچې پورې اړه لري.  اوس مهال د روغتیا نړیوال سازمان[22] له یو بل نه شاوخوا ۳,۳ فت (یو متر) واټن ساتلو سپارښتنه کوي، خو د ناروغیو کنترول او مخنیوي لپاره د امریکا متحده ایالاتو مرکز (CDC)[23] بیا د یو بل ترمینځ د شپږ فوټه ( ۱,۸ متره) واټن ساتلو سپارښتنه کوي.  د امکان په صورت کې د ټاکنو د تنظیم اداري کولای شي لدې هم پراخ واټن په پام کې ونیسي.  پداسې حال کې چې شپږ فوټه واټن نسبتاً خوندی ښکاري، یوې وروستې څیړنې[24] په ډاګه کړې چې د کروناویروس څاڅکې د ټوخې او پرنجې له امله تر ۲۷ فوټه (اته متره) واټن پورې هم خپریږي.  دا ښیېې چې د فیزیکې واټن د ساتلو سربیره، ټول وګړي باید خپل **تنفسي حفظ الصحې ته پام ولري او د ټوخې په وخت کې اساسي اصول** مراعت کړي[25].  (د بیلګې په توګه د ټوخې او پرنجې په وخت له دستمال څخه استفاده وکړئ او بیا هغه په خوندې توګه لرې کړي) او نورو ته د نږدې کېدلو په صورت کې خپل ماسک ولري.  د ماسک کارولو لپاره د ځانګړو شرایطو په اړه نور جزئیات کولای شي د "ټاکنو پلان جوړونې او منابعې" برخه کې ومومئ.

د فیزیکي واټن ساتلو په اړه د وړاندیزونو عملي کول ښایې په ټرلو ځایونو کې، چیرې چې رأیې ورکوونکې مرستې ته اړتیا ولري او یا په هغو هیوادونو کې چې له یو بل سره د نږدې کېدو عادت لري، ګران کار و اوسیږي.  که خلک پدې اړه خپل پام وساتي، د فیزیکې واټن د ساتلو لپاره پوسټرونه ولګول شي او د قطارونو ترمنځ د یو بل سره د تماس نیولو څخه ډډه وشي، نو هرو مرو چې د ویروس خپریدل به د پام وړ کچې ته راټیټ شي.  دغه لاربښوونې باید د ټاکنو چارواکو د روزنې او همدا راز د ټاکنیز کمپاین او د رأیې ورکوونکو د روزنې په موادو کې شاملې کړای شي.  کولای شي پدې اړه نور جزئیات د "د رأیې ورکوونکو روزنه" په برخه کې پیدا کړي.

## عادي وسایلو سره په کرونا اخته کسانو د تماس څخه مخنیوی یا راکول

که څه هم طبي ټولنه پدې باور نده چې د ویروس غیرمستقیم لیږد د ناروغۍ اصلي طریقه ده خو ښایې یو کس د یو منتن توکي یا سطحې سره د تماس وروسته خپل لاسونه په خولې، پوزې او یا هم په سترګو و وهي او په ناروغۍ اخته شي.  د ټاکنو د تنظیم اداري کولای شي د خطرونو د کچې راټیټولو لپاره **یو راز اقدامات ترسره کړي ترڅو وسایلو سره د تماس کچه راکه کړي** او د امکان په صورت کې د تماس پرته میکانیزمونو په کارولو سره ډاډ ترسره کړي **چې یوازې هغه کسان پر وسایلو او شیانو لاس وهلی شي چې لاسونه یې وینځلي او پاک کړي وي.**  د ناروغیو کنترول او مخنیوي لپاره د امریکا متحده ایالاتو مرکز او د روغتیا نړیوال سازمان د لاسونو وینځلو لپاره دوې لارې غوره کړې دي:

- اوبه او صابون: لږ تر لږه د ۲۰ ثانیو لپاره لاسونه په اوبو او صابون و مینځل شي؛ او / یا
- ۶۰ سلنه الکول لرونکي محلولونه: له دغو محلولونو څخه د لاسونو د وینځلو او د سطحو د پاکولو لپاره کار واخیستل شي.

که څه هم په غربي آفریقا کې د ټاکنو تنظیم ادارو د ایبولا ویروس سره د مقابلې په خاطر له (۰,۰۵) سلنه کلور محلول څخه کار اخیستلی ده، خو د روغتیا نړیوال سازمان د لاسونو وینځلو لپاره د دې محلول کارولو سپارښتنه نه کوي[26] ځکه چې دا محلول د لمر وړانګو په مقابل کې ژر خرابیږي.  همدا راز یاد سازمان موندلې ده چې د دغه محلول د کارولو له امله د روغتیايي کارکوونکو ترمینځ تنفسي ستونزې په ګوته شوي دي[27]؛ ځکه نو د لاسونو د تعقیم لپاره د ۰,۰۵ سلنې نه د لوړ کیفت محلول ته اړتیا لیدل کیږي.

## په ویروس ککړو شیانو سره د خلکو د تماس څخه مخنیوي یا کمول

سربیره پر دې چې د لاسونو د تعقیم کولو طریقې پورته ذکر شوې، مهمه خبره دا ده چې د وسایلو او سطحو (پوړونو) د پاکولو څخه هم ډاډ ترلاسه شي ترڅو د ناروغۍ لامل له مینځه یوړل شي.  دا کار د اوبو او صابون او یا هم د میکروب ضد نورو محلولونو په ذریعه ترسره کېدای شي؛ لکه ۶۰ سلنه الکول لرونکي محلولونه، ۰,۵٪ هایدورجن پرواکساید، ۰,۵٪ سودیم هایپوکلوراید او ټول هغه د میکروب ضد نور مواد چې د کروناویروس پر وړاندې اغېزمن ثابت شوي وي[28].)  بله طریقه دا چې

ټولو هغو ککړو وسایلو او سطحو باندې د یو څو ورځو لپاره لاس و نه وهل شي ترڅو ویروس په خپله غیر فعال شي. څرنګه چې د نهمې صفحې په چوکاټ کې ښودل شوي، په کروناویروس د توکو، وسایلو او سطحو د ککړتیا کچه او د غیرفعال کېدو موده د چاپېریال، رطوبت، تودوخې او د شیانو نوعیت پورې تړلې ده[۲۹].

کېدای شي په ویروس منتن شویو شیانو او سطحو سره د تماس نه د مخنیوي په خاطر له دستکشو نه استفاده وشي خو باید وویل شي چې ویروس د دستکشو پرمخ د اوږدې مودې لپاره پاتې کیږي؛ نو په لاسونو د دستکشو په صورت کې باید خپل مخ لمس نشي؛ دستکشې باید به منظم ډول تبدیلې شئ او استفاده شوې دستکې باید په خوندې توګه لرې کړای شي. همدا راز د ټاکنو د تنظیم ادارې دې په بیلابیلو سایزونه کې د ځان ساتنې د وسایلو [ښځینه او نارینه سایزونه] له شتون څخه ډاډ ترلاسه کړي. د یادې ده چې د دستکشو پر ځای په دوامداره توګه د لاسونو وینځلو ته ترجیح ورکول کیږي.

## روغتیایي چارواکو او نورو اړوندو ښستونو سره همغږي

د ټاکنو د تنظیم ادارې اکثرا د ټاکنو وړاندې له نورو ملي او سیمهایزو چارواکو سره د همغږي رامینځته کولو لپاره د ټاکنو ګډ عملیاتي مرکزونه جوړوي. په معمول ډول په دې مرکزونو کې تر ډېره بریده د بیلابیلو امنیتي او اطلاعاتي ادارو کارکوونکې سره راټولیږي ترڅو د سولهایزو ټاکنو د ترسره کولو څخه ډاډ ترلاسه شي؛ خو په یو شمیر نورو ځایونو کې بیا ګن شمیر دولتي ادارې په دې برخه کې ګډون کوي. در عامې روغتیا د ناروین په ترځ کې په تیره بیا د کروناویروس د پاندیمې پر وخت، روغتیایي کارکوونکې باید په دې مرکزونو کې رغنده رول و لوبوي.

که څه هم د ټاکنو د تنظیم ادارې د ټاکنو بهیر اړوند د همغږي هڅو مشرې کوي؛ خو د کروناویروس د پراخ والی او په ورځینې ژوندانه د هغه اغیز په پام کې نیولو سره، ډیری هیوادونو ځانګړې کاري ډلې جوړې کړې دي چې د هیواد په کچه لوړ پوړې چارواکې پکښې شامل دي. دا ډول کاري ډلې چې لومړی وزیر یا د ولسمشر مرستیال پکښې ګډون ولرې، بیشمیره ګټې او اغیزې لري: لکه د مراتبو د سلسلې کمولی او د اړتیا وړ بودیجې سم د لاسه ترلاسه کول. کله داسې هم کېدای شي چې دا ډلې د تخنیکي ماهیت پر ځای، بشپړ سیاسي وضعیت غوره کړي، خو د ټاکنو د تنظیم ادارې باید خپلو قانوني دندو ته چې د ډیموراتیکو ټاکنو ترسره کول دي، پام وکړي.

پرته لدې چې په پای کې ټاکنې ترسره کیږي او که نه، د ټاکنو د تنظیم ادارې باید پر دریو دندو تمرکز وکړي؛ ترڅو د خپل ګډون کچه اوچته او له نورو دولتي ادارو سره د همغږی نه پوره ګټه ترلاسه کړي. د عامې روغتیا ناورین په ترځ کې د ټاکنو تنظیم کوونکو ادارو لپاره درې اقدامونه له خورا اهمیت څخه برخمن دي.

- **د عامې روغتیا له کارپوهانو او چارواکو سره د خطرونو یوه ګډه ارزونه** ترسره کړي ترڅو د ټاکنو په ټولو پړاونو کې د ویروس د خپریدو خطر کچه په ګوته شي. دا ارزونه به د نورو ارزونو سربیره یوه ارزونه وي چې د ټاکنو د تنظیم ادارو لخوا د ټاکنو د سلامتیا لپاره مخکې ترسره شوې دي (د بیلګې په توګه: د فساد، سیستماتیکې لاسوهنې او درغلې څخه مخنیوی)؛
- د ارزونې د موندنو پر بنسټ او له کاري شریکانو (سیاسي ګوندونو، مدني ټولنو او څارونکو ډلو) سره په سلا مشورو **د خطر کمولو** یو پلان جوړ کړي؛ پدې پلان کې باید په لایحو او کړنلارو کې د اړینو بدلونونو راوستلو او ټاکنیزو چارواکو او نورو ښکیلو خواوو ته د هغوي د دندو ترسره کولو په موخه د اضافي اړتیا وړ موادو برابرولو په اړه تفصیل ورکړل شي. په بعضې شرایطو کې ښایې قانوني اصلاحات هم په پام کې ونیول شي[۳۰]. همدا راز د ټاکنو د تنظیم ادارې دې ته اړ دي چې د ناروغۍ په اړه د عامه پوهاوی یو پلان جوړ او د ویروس خپریدو د خطر راکمولو په برخه کې د خپلو اقداماتو په اړه خلکو ته معلومات ورکړي.
- د ویروس خپریدو خطر په اړه د عامه پوهاوي پلان دې د **ټاکنو په نوی جوړ شوي عملیاتي پلان** کې شامل کړای شي. پدې کار سره به تر ډېره بریده د ټاکنو محال ویش او بودجې نویو کولو ته هم اړتیا پیدا شي.

## د ټاکنو پلان جوړونه و منابعې

### د ټاکنو ځنډولو، د ټاکنو محال ویش او په نورو قانوني موادو کې د بدلونونو په اړه څرګندونې

په نړۍ کې د کروناویروس (COVID-19) د خپریدو له امله نږدې ۶۰ هیوادونو خپلې ملي او سیمه‌ایزې ټاکنې لدې امله ځنډولې چې په لویو پیښنو کې د ویروس د خپریدو پراخ ګواښ موجود دی او د ټاکنو د تنظیم ادارې پدې نه توانیږي چې خطرونه د منلو وړ په کچه کنټرول کړي؛ ځکه نو د اوضاع د لا خرابیدو له امله د ټاکنو د ترسره کیدو مسئولیت په غاړه نه اخلي. که څه هم دا ډول ځنډونه ځینې وختونه د رایې ورکوونکو او ټاکنیزو چارواکو د سلامتیا لپاره غوره پریکړه بلل کیدای شي، خو بنایې چې دا کار سیاسي لاسوهنې او له قدرت څخه ناوړه ګټه اخیستنې ته لاره هواره کړي[31]. کیدای شي چې سیاسي مشران د عامې روغتیا ناورین د ټاکنو ځنډولو لپاره د یوې پلمې په توګه وکاروي او په داسې نازکه شیبو کې خپل واکونه وغزوي او ډیموکراتیک اصول زیانمن کړي. که چیرې د ټاکنو ځنډول د وګړو سلامتیا لپاره یوازینۍ د حل لار وي، نو د ټاکنو د تنظیم ادارې او د عامې روغتیا چارواکې باید د داسې ځنډ د اداره کولو لپاره قانوني لارې چارې په ګوته کړي. د خطرونو ارزونه دې ترسره کړي او د امکان په صورت کې د عامې روغتیا چارواکو او د ټاکنیزو ملګرو په همغږۍ سره دې د راتلونکې لپاره د ټاکنو پلان جوړ کړي. همدا راز وګړو سره دې د داسې یوې پریکړې په اړه دلایل شریک کړي او عامې روغتیا ته د ورپیښنو خطرونو د کمولو لپاره د اقداماتو په اړه دې خپلو شریکانو ته معلومات ورکړي.

### د ټاکنو نیټې په اړه څرګندونې

کله چې د ټاکنو لپاره یوه نیټه تعیین کیږي نو د هوا حالاتو په ګډون یو شمیر عوامل دې په پام کې ونیول شي. د مثال په توګه ټاکنې باید په معتدله هوا او وچ موسم کې ترسره شي؛ ترڅو رایې ورکوونکي و کولای شي په پرانیستو ځایونو کې سره راټول او په سر پټو ځایونو کې له راغونډیدلو څخه مخنیوی وشي. که چیرې ناروغۍ د میاشو، مچیو یا نورو حشراتو په واسطه انسان ته انتقالیږي، نو چارواکې باید د دغو ناقلینو د قوي فعالیت وخت په پام کې ونیسي. د تودوخې لوړه درجه د ویروسونو په تیره بیا د انفلویزا لپاره چې د زکام سبب کیږي مناسبه نده؛ څرنګه چې د سارس ویروس خپریدل هم په ۲۰۰۳ کال کې د تودوخې د لوړیدو له امله کم شول. پداسې حال کې چې ځینې کارپوهان تمه لري چې د هوا له تودوخې سره[32] به په متحده ایالاتو او اروپا کې د کروناویروس په خپریدو کې لږ کمښت راشي؛ خو دا لا روښانه نده چې آیا دا کمښت به د پام وړ وي او که نه، ځکه چې په سویلي نیم کره کې د ناروغۍ خپریدل ښیې چې د تودوخې لوړه درجه د کروناویروس د کنټرول لپاره کافي نده.

د ټاکنو نیټې او ټاکنیزو فعالیتونو په اړه پریکړې په ترڅ کې باید د ناروغۍ خپریدل په پام کې ونیول شي. د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) د کروناویروس له امله رامنیځته شوې ناروغۍ خپریدل په څلورو کټګورۍ ویشلې دي[33]: ۱) هیڅ پیښنه؛ ۲) لږ پیښنې؛ ۳) د کلستر په ډول پیښنې؛ او ۴) د ټولنې په کچه د ناروغۍ خپریدل چې دا تر ټولو سخته کټګورۍ ده چې په ترڅ کې د هیواد په بیلابیلو برخو کې بې تړاوه کلستر ډوله پیښنې په ګوته کیږي. هغه اقدامات لکه ګرځبندیز او د سفر محدودیتونه چې د ویروس خپریدو په خورا سختو پیښنو کې د دولتونو لخوا عملي کیږي، د مخامخ (حضوري) ټاکنو ترسره کول ناشونې کوي.

د ټاکنو د تنظیم ادارې باید په سیمه یا هیواد کې د ناروغۍ د خپریدو پړاونه په پام کې ونیسي. د راپور شویو ارقامو اعتبار ته په کتو او د هیواد یا سیمې په کچه د پیښنو د لوړیدو په پام کې نیولو سره اړوندو چارواکو ته دا موضوع په داګه کیږي چې د ناروغۍ پیښنې مخ په زیاتیدو، ثابتې او یا مخ په کمیدو دې. که څه هم دا تغییرات په یوازې توګه د ټاکنو امنیت تضمین کولای نشي، ځکه چې بنایې د ناروغۍ نوې څپې رامنیځته شي؛ خو په هر صورت، د پیښنو کمښت د ټاکنو لپاره یوه خوشبینه سناریو وړاندې کوي.

وروستې خبره دا چې د ټاکنو ترسره کولو په صورت کې باید د هیواد روغتیایې سیستم جوړښت او وړتیا او د ټاکنو په ترڅ کې د روغتونونو د خدمتونو وړاندې کولو د تمې وړتیا په پام کې ونیول شي. که چیرې په روغتونونو کې د بسترونو او مصنوي نفس دستګاوو لپاره غوښتنې او اړتیا د هیواد په کچه اعظمي حد ته ورسیږي، نو بیا د ټاکنو ترسره کول په روغتیایي سیستم بار زیاتوي او بنایي چې دا سیستم فلج او یا له مینځه یوړل شي. له بل پلوه د ټاکنو ترسره کول به د روغتیایي مرکزونو څخه د ځان ساتنې وسایلو سرچینې خپل اړخ ته کش کړي او روغتیایي ستونزې به له زیاتې شي.

### د اضافي موادو، وسایلو او تجهیزاتو په ګوته کولو او اخیستلو په اړه څرګندونې

که چیرې د ټاکنو مودل کې بدلون راځې یعني ټاکنې په حضوري (مخامخ) شکل نه بلکې په مجازي (لرې واټن) شکل ترسره کیږي، نو پدې صورت کې د ټاکنو د تنظیم ادارې دې ته اړتیا پیدا کوي ترڅو د وسایلو یا تجهیزاتو په پیرودلو کې یو لړ بدلونونه رامینځته کړي. د بیلګې په توګه، تر هغه ځایه چې قانوني چوکاټ اجازه

ورکوي که چیرې تاکنې په مجازي توګه ترسره شي، نو د پُستې یا ناسبو رایو د کارولو لپاره به ډېرو پاکټونو ته اړتیا وي؛ همدا راز د پُستونو مصرف به لوړ شي او د رایو د پروسس لپاره به پراخو ځایونو او د اضافي کارکوونکو استخدام او روزنې ته اړتیا ولیدل شي. یو ځل چې د ټاکنو کړنلارې په آنلاین سیستم کې دننه شې نو د یو ډېر خوندي محافظتي سیستم پېرودلو او نصبولو ته به هم اړتیا وي.

که چیرې ټاکنې په حضوري شکل هم ترسره شي، نو بیا به هم د ټاکنو د تنظیم ادارې د یو لړ اضافي وسایلو پېریدو ته اړتیا ولري ترڅو د رایې ورکوونکو او نوماندان د نوم لیکنې او رأیې ورکونې بهیر کې د ناروغۍ د خپریدو خطر کم کړي. مهمه خبره دا ده چې مناسبې سرچینې تشخیص شي، عرضه کوونکي په ګوته او پیرودل په ړونتیا او چټکۍ سره بشپړه شي؛ ځکه نو هر شی به پر خپل وخت او لازم کیفیت تیار وي. په ځانګړې ډول د پراخو پیښو لکه کروناویروس پاندیمې په ترڅ کې ښایې د تدارکاتو سلسله د نړیوالې غوښتنې د زیاتیدو او یا د ځینو شرکتونو د لنډ مهاله تړل کیدو له امله له ستونزو سره مخ شي. لدې امله، سپارښتنه کیږي ترڅو ټاکنیز چارواکي د ټاکنو ترسره کیدو په اړه د پریکړې کولو وړاندې د توکو اړینو وسایلو د شتون او پر وخت تسلیمیدو څخه ډاډ ترلاسه کړي. د اړتیا وړ توکو لپاره د تدارکاتو لړۍ باید په مطلوب ډول د رأیې ورکونې موادو - چې له وړاندې په هیواد کې تیار شوې دي - د تدارکاتو په سلسله کې شاملې شي.

لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه د کروناویروس د خپریدو خطر کمولو لپاره ښایې د رأیې اچونې مرکزونه لاندې توکو ته اړتیا ولري:

- **صابون یا الکول لرونکی محلول** چې د لاسونو پاکولو او تعقیم لپاره کارول کیږي او د **تعقیم نور تائید شوي محصولات** چې د سطحو پاکولو لپاره ترې استفاده کیږي. د اړتیا وړ هر محلول مقدار د رأیې ورکوونکو او رأیې اچونې محلونه د شمېر او نورو حضوري فعالیتونو پورې، چې د ټاکنو د تنظیم ادارې یې د ترسره کولو تمه لري، تړلی دی. (د بیلګې په توګه: د رأیې ورکوونکو د نوم لیکنې پیښې، د رأیې اچونې محلاتو د کارکوونکو روزنه) که څه هم د ټاکنو پر ورځ د رأیې ورکوونکو شمیر ۱۰۰ سلنې ته نه رسیږي خو بیا هم د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د حداکثر رأیې ورکوونکو لپاره اهتمامات په پام کې ونیسي.
- **ماسک:** که په سم شکل جوړ او استفاده شي نو د تنفسي څاڅکو د ذراتو د یوه مشخصې سلنې مخه کولای شي او شاوخوا کسانو ته د ویروس د انتقال چانس کم وی. په مطلوبو شرایطو او د محصولاتو نامحدوې عرضې ته په کتو سره د N95 تنفسي دستکاوې[۳۴] د اغیزمنتوب له کبله یو ښه انتخاب دی. آل دا چې جراحي ماسکونه د دغو دستکاوو په پرتله، دومره اغیزمن ندي خو بیا هم د ویروس خپریدو په مخنیوي کې مرسته کولای شي. په نړیواله کچه د دغو وسایلو کمښت ته په کتو سره د عامې روغتیا کارکوونکي باید د N95 دستګاوو او جراحي ماسکونو ترلاسه کول خپل لومړیتوب وګڼي. سربیره پر دې د ټاکنو د تنظیم ادارې باید نورې لارې هم په پام ونیسي لکه د رأیې اچونې محلاتو د کارکوونکو او مسئولینو لپاره د ټکه‌ای ماسکونو برابرول او د بودیجې شتون او رأیې ورکوونکو ته د لاسرسي په صورت کې هغوي ته هم د دا ډول ماسکونه په پام کې نیول. د ټکه‌ای ماسکونو د استفادې ترڅنګ، د لاس وینځلو لارښوونې هم باید خلکو ته ورکول شي. که چیرې د ټاکنو د تنظیم ادارې رأیې ورکوونکو ته د ماسکونو د برابرولو توان و نلري نو هغوي باید په ټاکنیزو فعالیتونو د ګډون په وخت کې د ماسک اغوستلو ته وهڅول شي. د ناروغیو کنټرول او مخنیوي لپاره د امریکا متحده ایالاتو مرکز په کور کې د ماسک جوړولو په اړه یو شمیر لارښوونې وړاندې کړې دي[۳۵].

  د رأیې اچونې محل هغو کارکوونکې لپاره چې په کروناویروس اخته رأیې ورکوونکو سره په مستقیم تماس کې دي او یا د اړمندو رأیې ورکوونکو سره مرسته کوي او فیزیکې واټن ساتلې نشی باید د **مخ شفاف شیشه‌اي پوښ** په پام کې ونیول شي. همدا راز کاڼه او کمزور اوریدونکي رأیې ورکوونکي کولای شي د دا راز نازکو او نیمه شفافو ماسکونه په صورت کې هم د کارکوونکې د شونډو حرکات ولولي.
- **د رسۍ، طناب، نوار او ټاپو لګولو اقدامات** کولای شي د ټاکنیزو فعالیتونو په ترڅ کې په قطارونو کې د فیزیکې واټن په ساتلو کې مرسته وکړي. نو لدې امله د رأیې اچونې په هر محل کې د رأیې ورکوونکو ترمینځ د نظم او قطار د سمبالتیا لپاره د پورتنو موادو د کارولو سپارښتنه کیږي. کیدای شي دا مواد په ډیرو لږو پیسو برابر شي خو د تیرو ټاکنو تجربو ته په کتو سره، د دغه راز موادو اندازه باید د چارواکو لخوا په ښه توګه سنجش شي. نوار یا طنابو باید د شپږ فُت په مسافه کې له رسیو سره و تړل شي ترڅو په قطارونو کې د رأیې ورکوونکو ترمینځ د فیزیکې واټن په ساتلو کې مرسته وکړي. په قطارونو کې د ټاپو په سرښ کولو د رأیې ورکوونکو د دریدلو ځای مشخص کیدای شي. سربیره پر دغو اقداماتو، د قطار کنترول کوونکې باید د رأیې ورکوونکو ترمنیځ د فیزیکې واټن د مراعت کولو څخه ډاډ ترلاسه کړي.
- **شفافې شیشې یا جلا کوونکې دیوالونه** کولای شي د ټاکنو په بیلابیلو پړاونو په تیره بیا د رأیې ورکوونکو د نوم لیکنې او د هغوي د اسنادو تصدیق او لاس لیک کولو په ترڅ کې، د رأیې ورکوونکو، د محل کارکوونکو او د ټاکنو چارواکو ترمینځ واټن خوندي کړي او د څاڅکو د انتقال څخه مخنیوی وکړي. دغه راز دا شیشې باید په پر له پسې توګه تعقیم او خلک هغو سره د تماس څخه ډډه وکړي.
- **دستکشې** د یو احتیاطي روش په توګه د محلونو کارکوونکو او نورو ټاکنیزو چارواکو لپاره په پام کې نیول کیدای شي ترڅو توکو او رأیې ورکوونکو سره د هغوي د تماس مخه ونیول شي او تر کومه وخته چې دستکشې په لاس وي نو پر مخ د لاس وهلو نه دې ډډه وشي. دستکشې باید د لنډ مهال لپاره په لاسو وي او وروسته بیا و ایستل شي. د منابعو د شتون په صورت کې سپارښتنه کیږي چې د رأیې اچونې هر محل لپاره یو قوطی ۵۰ دانه‌ای دستکشې ورکړل شي ترڅو کارکوونکي وکولای شي هغه څو ځلې بدلې کړي. ټولې استفاده شوې دستکشې باید په مناسب ډول لرې او په پوره ډاډ سره په سر تړلو صندوقونو کې واچول شي. څرنګه چې د محل کارکوونکو په پرتله د ټاکنیزو پړاونو په ترڅ کې د رأیې ورکوونکو د تماس کچه ټیټه ده نو هغوي

ته د دستکشو پر ځای د هر ډاکټیز فعالیت د ترسره کولو وړاندې او وروسته د لاسونو د وینځلو سپارښتنه کیږي. همدا راز د دستکشو[۳۶] په لاس کول انسان ته د کاذب خوندیتوب[۳۷] احساس ورکوي او دا کار توکو او سطحو سره د کارکوونکو د لا زیات تماس سبب ګرځي او د لاسونو وینځل هم ستونزمن کوي. که چیرې دستکشې په سمه توګه و نه ایستل شي نو د خطر ډیر چانس رامینځته کوي؛ پداسې حال کې که چیري میلونونه انسانان له هغو استفاده وکړي نو ستونزې ډیرې ستړې وي.

- **روزنیز مواد:** په ټولو عامه پیښو کې د رایې ورکوونکو او نورو ګډون کوونکو لپاره په انځورونو لاربښوونو په شمول د روزنیزو موادو د برابرولو سپارښتنه کیږي. همدا راز پوسترې د روښانه انځورونو او په ملي ژبو د واضح پیامونو په درلیدو سره د رایې اچونې محلونو دننه او بیرون وزړول شي. د ټاکنو چارواکې باید د اړوندو پوسترونه په انتخاب کې د عامې روغتیا چارواکو همکاري ترلاسه او د هغو د چاپ لپاره له اړوندو بنسټونو سره اړیکې ټینګې کړي. ښایې دغه راز پوسترونه د ملي او نړیوالو مؤسسو لخوا په وړیا توګه چاپ شي.
- **راډیویي او تلویزیوني پیغامونه او د ټاکنو په اړه نورې عامه پوهاوی** باید په ساده او اغیزمنو روغتیایي لاربښوونو سمبال او د رأیې اچونې وړاندې، رأیې ورکوونکو ته وړاندې شي. پدې اړه نور توضیحات د "رایې ورکوونکو روزنې" په برخې کې موندلی شي. دا پیغامونه باید د عامې روغتیا چارواکو سره په همکارۍ جوړ شي ترڅو د عامه خدماتو نورو پیغامونو سره د هغوي د مطابقت څخه ډاډ ترلاسه شي. ګیدای شي نوي پیغامونه پدې اړه مخکنیو پیغامونو کې ورکډ او د پخوانیو رسنیو له لارې خپاره شي ترڅو د بودیجې کسر کم کړي. پیغامونه باید د لاسرسي وړ فارمتونو کې جوړ شي لکه د اشارې ژبه، غټ فونټ او سیمه‌ایزې ژبې پکښې په پام کې ونیول شي. د معلوماتو خپرولو د تګلارې پر بنسټ، دغه راز پیغامونه باید د موجود رسنیزو چینالونو له لارې ښځو، ځوانانو، معلولینو او نورو دودیزو ډلو ته و رسول شي.

که څه هم په غربي آفریقا کې د ایبولا ویروس د خپریدو په ترڅ کې د تماس پرته حرارت سنج (ترمامتر) کارول ګټور ثابت شوی او یو شمیر هیوادونو د کرونا ویروس په ترڅ کې هم له هغو څخه استفاده کړې، خو پدې برخه کې بیا ډیر ګټور ثابت شوي ندي. ښایې حرارت سنج کاذب مثبت یا منفي معلومات په ګوته کړي[۳۸]، په تیره بیا که چا د تبې ضد درمل خوړلی وي؛ همدا راز نشي کولای په بې اعراضو کسانو کې د ویروس نښې نښانې تشخیص کړي. پداسې حال کې چې تبه د ایبولا ناروغۍ لومړنۍ نښه ده او ناروغان تر هغه وخته پورې ساري ندي چې د ناروغۍ نښې و نه لري؛ خو وروستو شواهدو په ډاګه کړې چې په کرونا اخته کسان د ناروغۍ د نښو نښانو درلودلو پرته هم ویروس خپروي[۳۹]. *ځکه نو که چیرې منابعې کمې وې، حرارت سنج ته باید لومړیتوب ور نه کړای شي.*

## د بودیجې او اضافي لګښتونو په اړه څرګندونې

د ټاکنو د تنظیم اداري باید په پام کې ولري چې پورته ذکر شوي ټول اقدامات اضافي لګښتونه رامینځته کوي. د ناروغۍ د خپریدو څرنګوالي ته په کتو سره، ښایې په سیمه یا هیواد کې نور سازمانونه هم دغه شان وسایلو ته اړتیا ولري چې دا کار په خپله د اړتیا وړ موادو د کمښت او د قیمتونو د لوړیدو لامل کیږي. سربیره پر دې د نویو وسایلو تهیه کولو لګښتونه یوازینې غیر معمول لګښتونه ندي چې د عامې روغتیا ناورین له امله د ټاکنو په لګښتونو کې اضافه کیږي. که چیرې د یوې ناروغۍ د خپریدو په ترڅ کې حضوري ټاکنې ترسره کیږي، نو د ټاکنو د تنظیم اداري باید د خلکو د یو ځای کیدو او د رأیې ورکوونکو ترمینځ د فزیکي واټن د رامینځته کولو لپاره نوي روشونه په پام کې ونیسي. د نویو روشونو په ترڅ کې ګیدای شي چې د نوم لیکنې مرکزونو د څو ورځو لپاره پرانستې پاتې شي؛ د رأیې اچونې محلونو د کارکوونکو لپاره په کوچنیو ډلو کې ډیرې روزنیزې برنامې ترسره شي او همدا راز د فزیکي واټن د ساتلو لپاره لوی ځایو اجاره ونیول شي.

سربیره پردې نویو تعدیل شویو پړاونو او د ځان ساتنې وسایلو د مناسبې استفاده په اړه د روزنې نویو شرایطو ته په کتو سره، روزنیزې برنامې به ډیر وخت ته اړتیا ولري. ځکه نو ټول دغه اهتمامات له شک پرته چې د ټاکنو لګښتونه زیاتوي.

"د ټاکنو د تنظیم اداري باید وګوري چې د دغو ټولو اضافي لګښتونه توان لري یا له خپلو همکارانو څخه د اضافي لګښتونو د برابرولو غوښتنه وکړي؛ همدا راز د مهمو اړتیاو د پیژندلو لپاره روغتیایي چارواکو سره همغږي رامینځته او خپل لومړیتوبونه په ګوته کړي."

د پای خبره دا چې که چیرې د ټاکنو د تنظیم اداري د حضوري غونډو د بندلو پریکړه وکړي خو خپلو ټاکنیزو فعالیتونه ته د لرې واټن نه دوام ورکړي، نو دا کار په خپله د ټاکنو په لګښت کې زیاتوالی راولي. د بیلګې په توګه د ټاکنو د تنظیم اداري باید د آنلاین سیستمونو، مجازي زدکړې، پُستې موادو او فورمونو او د هغو د ډاډمن امنیت لپاره پانګونه وکړي. د ټاکنو د تنظیم اداري باید وګوري چې د دغو ټولو اضافي لګښتونه توان لري یا له خپلو همکارانو څخه د اضافي لګښتونو د برابرولو غوښتنه وکړي؛ همدا راز د مهمو اړتیاو د پیژندلو لپاره روغتیایي چارواکو سره همغږي رامینځته او خپل لومړیتوبونه په ګوته کړي.

## د نوماندانو نوم لیکنه

### د نوماندانو پُستي نوم لیکنې په اړه څرګندونې

د نوم لیکنې بهیر، سیاسي ګوندونو او خپلواکو نوماندانو پردې قادروي چې په ټاکنو کې خپل ګډون ته رسمي بڼه ورکړي. د ټاکنو د تنظیم ادارې د ټاکنو ورځې لپاره چاپي یا بریښنایي رأی پاڼې جوړوي او په دغه رأی پاڼو کې د نوماندانو هغه معلومات لیکل کیږي چې د نوم لیکنې په ترڅ کې ترلاسه شوي دي. نو دا ډیره مهمه خبره ده چې د نوم لیکنې په ترڅ کې ټول معلومات به سمه توګه ثبت شي؛ ځکه چې ناسم معلومات د رأی پاڼو په چاپ او منلو اغیزه کوي.

د هر هیواد ټاکنیز سیسټم او د نوماندانو د نوم لیکنې لپاره نافذ قانوني چوکاټ ته په کتو سره، کیدای شي د نوم لیکنې بهیر تر ډیره بریده د ثبت شوي پُست له لارې او یا هم په حضوري شکل ترسره شي. د پُست له لارې نوم لیکنه د غوښتونکي لپاره لږ روغتیایي خطرونه رامینځته کوي او دا خطرونه په خپله د غوښتونکي او د هغه چارواکي لخوا په آسانۍ کنټرول کیدای شي چې د غوښتون لیکونو د پروسس مسئولیت په غاړه لري. څرنګه چې (د رأیې اچونې محل عملیات) په برخه کې په تفصیل ویل شوي، هغه څوک چې په خپل کور کې د نوم لیکنې فورمونه ډک وي باید د کار په پای کې خپل لاسونه ومینځي او پاکټونه باید په خپله سریښ شي. که پدې شکل پاکټونه موجود نه وي نو د عادي پاکټونو پرمخ دې ګوابښنه ورکړل شي، چې هغه د خولې په لعاب (لاړو) باندې سریښ نشي او پرځای دې له یو سفنج څخه استفاده وشي چې د پاکټ د سریښ ځای له یو بل سره سریښ شي. بل خوا هغه چارواکي چې د پسټ له لارې دغه پاکټونه ترلاسه کوي باید له دستکشو څخه کار واخلي او د دستکشو پر وخت خپل مخ ته لاس ور نه وړي او همدا راز په محل کې له نورو سره فیزیکي واټن په پام کې وساتي.

### د نوماندانو حضوري نوم لیکنې په اړه څرګندونې

د نوم لیکنې ډیرى پړاونه د نوماندانو حضور ته اړتیا لري ترڅو هغوي په ټاکلي وخت کې د اسنادو تسلیمي، د فورمونو لاسلیک او د رأی پاڼو لپاره د خپل عکس اخیستلو لپاره اړوندې ځانګې ته حاضر شي[40]. په یو شمیر مواردو کې بیا د سیاسي ګوند د استازي یا شاهد حضور هم حتمي وي، چې دا کار د خلکو د ګڼګوڼې لامل ګرځي. ځکه نو د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د نوماندانو حضوري نوم لیکنې لپاره د ځای انتخابولو په وخت د قطارونو ترمینځ د فیزیکي واټن ساتلو موضوع په پام کې ولري؛ همدا راز محل ته د خوندی ننوتلو او راوتلو په اړه روښونه په سمه توګه تنظیم او د چارواکو د ناستې ځای او فیزیکي واټن په پام کې ونیسي. نوماندان باید اړوندو ځانګو ته د ننوتلو دمخه د لاس وینځلو ټول مناسب روښونه مراعت کړئ. د محل د باندې د روغتیایي لارښونو په اړه پوسټرې هم باید وځړول شي.

همد راز د ټاکنو د تنظیم هغه ادارې چې د نوماندانو د نوم لیکنې بهیر یې ته ډیره بریده کمپیوټرې کړی دی هم د نوماندانو د شخصي معلوماتو د لیکنې په وخت کې د هغوي لاسلیک ته اړتیا لري. نو د کروناویروس د خپریدو خطر د راکمولو لپاره په هغو ادارو کې چې د نوم لیکنې کمپیوټري سیسټم کاروي، د تخنیکي وسایلو د کارولو، د اسنادو د راکړې ورکړې، د فورمونو د لاسلیک او د عکس اخیستلو په وخت کې دې له هغو تدابیرو څخه کار واخیستل شي چې "د رأیې ورکوونکو نوم لیکنې" په برخې کې بیان شوي دي. د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د نوماندانو د نوم لیکنې بهیر په ترڅ کې د فیزیکي واټن ساتلو، د لاس وینځلو او تنفسي حفظ الصحې د مراعت کولو په اړه د لارښونو د عملي کیدو څخه ډاډ ترلاسه کړي. دوارړه هم نوماندان او هم چارواکي باید و هڅول شي چې د اسنادو د پر له پسې راکړې ورکړې په وخت کې ماسک او دستکشو څخه استفاده وکړي او د عکس اخیستلو په وخت کې فیزیکي واټن په پام کې ونیسي.

### د نوماندانو نوم لیکنې لپاره د ملاتړیزو لاس لیکنو په اړه څرګندونې

په عمومي توګه احتمالي نوماندان مجبور دي چې د خپلو یو شمیر واجدو شرایطو ملاتړ کوونکو لاسلیکونه وړاندې کړي. د زرګونو لاسلیکونو حضوري راټولول او د ثبت کتاب کې د هغو رسول د کروناویروس د خپریدو خطر ډیر زیاتوي؛ ځکه چې لاسلیک کوونکي او لاسلیک راټولوونکي له یو بل مقابل عمل کوي او دواړه خواوې په ټوکو لاس وهي. نو د امکان په صورت کې د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د اړتیا وړ لاسلیکونو شمیره راټیټه کړي او یا اجازه وکړي چې لاسلیکونه د یو خوندي آنلاین شبکې له لارې راټول شي.

## ټاکنیز کمپاین

### د سنتي او نویو رسنیزو کمپاینونو په اړه څرګندونې

د عادلانه ټاکنو د ترسره کولو لپاره نوماندانو ته د مساوي فرصتونو برابرول ډېر مهم دي. ښایې په واک کې ښکیل نوماندان رسنیو ته زیات لاسرسی ولري او د عامې روغتیا د ناروین په ترڅ کې ډېر راښکاره شي؛ دا په داسې حال کې ده چې د اپوزیسیون، نویو او لږ منابعو لرونکو نوماندانو لپاره به ډېره ستونزمنه وي چې د محدودو ټولنیزو غونډو یا پوره قرنطین په صورت کې خپل ځان د خلکو ترمنځ مطرح کړای شي. همدا راز ښایې په ډېرو هیوادونو کې ډېری برحال چارواکي نارینه وي او په ټاکنیزو کمپاینونو کې دغه راز خنډونه د ښځینه نوماندانو د مطرح کېدو او انتخاب مخه ډپ کړي.

په داسې شرایطو کې لازمه ده چې ټول نوماندان او سیاسي ګوندونه رسنیو ته منصفانه لاسرسی ولري او د ټاکنیزو مبارزاتو لپاره د مالي چارو مقررات پلي شي. د ټاکنو د تنظیم ادارې کولای شي له دولتي او شخصي رسنیو سره په همغږۍ، رسنیو ته د سیاسي ګوندونو نوماندانو او خپلواکه نوماندانو لاسرسی تسهیل کړي او هغوی د لا زیاتو تلویزیوني مناظرو په لاره اچولو ته و هڅوي؛ ترڅو نویو نوماندانو ته دا فرصت برابر شي چې خپل سیاسي لیدلوری له خلکو سره شریک کړي. همدا راز د ټاکنو د تنظیم ادارې کولای شي د نویو او بې وسه نوماندانو د ټاکنیزو مبارزو لپاره یو لړ تشویقي امتیازونه په پام کې ونیسي: لکه د نوم لیکنې د لګښت معافول.

د امکان تر حده پورې، د ټاکنو د تنظیم ادارې کولای شي، سیاسي ګوندونه له روغتیایي چارواکو سره همغږۍ ته وهڅوي؛ ترڅو د خپلو ټاکنیزو فعالیتونو په ترڅ کې د ویروس د خپرېدو خطر د کمولو لپاره ځانګړي روشونه پلي کړي او د فعالیتونو په ترڅ کې د ناروغۍ سره د مبارزې په اړه د ثابت پیغامونو د شتون څخه ډاډ ترلاسه کړي. هغه مناظرې، مطبوعاتي تبصرې او نورې پېښې چې د رادیو تلویزیون او نورو آنلاین رسنیو لخوا خپرېږي باید د ویروس د خطر کمولو په اړه ځانګړي احتیاطي روشونه تعقیب کړي. ګډون کوونکي باید له یو بل څخه لږ تر لږه شپږ فوټه فاصله ولري او یو بل ته د نږدې کېدو په صورت کې د ځان ساتنې له وسایلو لکه ماسک څخه استفاده وکړي او د لاس وینځلو روشونه وکاروي. (هغه څه چې په پورتنیو روغتیایي روشونو کې بیان شوي دي) دا چې د ماسک په شتون کې د شونډو ویل ګران کار دی، نو د زیرنویس او اشارې ژبې کارول هم مهم برېښي. دغه راز بریښنایي وسایل لکه کیبورډ، مایکروفون، مانیټور او داسې نور باید د تولید کوونکو د لارښونې سره سم، تعقیم شي. سربېره پردې، کله چې پېښې د ویډیو له لارې خپرېږي نو ګډون وال باید پدې پوه شي چې د دوی کړنې لیدل کیږي؛ ځکه نو دوی باید د ناروغۍ خپرېدو د مخنیوي په اړه د احتیاطي تدابیرو د عملي کولو په برخه کې د اغیز کوونکو په توګه له ځان نه یو ښه مثال پرېږدي.

### د حضوري ټولنیزو غونډو په اړه څرګندونې

لکه څنګه چې ډېری هیوادونو د کروناویروس (COVID-19) د خپرېدو د مخنیوي لپاره په ټولنیزو غونډو کې د ګډون والو شمېر محدود کړای دي؛ ټاکنیزې پېښې لکه ټاکنیز کمپاینونه په پوره توګه ځنډول شوي دي. د دغو پېښو د ترسره کولو په خاطر، د چارواکو د اجازې په صورت کې، باید یو شمېر وړاندیزونه عملي شي.

د عامه لاریونونو او د ټاکنیزو کمپاینونو کنټرول خورا سخت دی ځکه چې د ټاکنو د تنظیم ادارو له لید نه بهر وي. په هر صورت کله چې داسې یوه قضیه هم وي، د ټاکنو د تنظیم ادارې یا سیاسي ګوندونه کولای شي چې د روغتیایي چارواکو په همکارۍ یوه ناسته، ورکشاپ یا آنلاین روزنیزه برنامه چې د ناروغۍ د خپرېدو خطر کمولو ټول اساسات په کې په پام کې نیول شوي وي او نوماندان وکولای شي خپل نظر او پوښتنې بیان کړي، له مالي اړه ملاتړ کړي. همدا راز سیاسي ګوندونه باید د روغتیایي چارواکو سره په همغږۍ د ټولنیزو ناستو لپاره مناسب روزنیز مواد په ګوته کړي. نوماندان و د هغوی ټاکنیز ټیمونه باید د ناستو او غونډو په ترڅ کې د خلکو ترمنځ د فزیکي واټن د ساتلو، د زیان منونکو کسانو د خوندیتوب او ودانیو ته د ننوتلو او بېرته راوتلو په وخت کې د روغتیایي روشونو د مراعت کولو مسئولیت په غاړه واخلي. محل ته د ننوتلو وړاندې په اوبو او صابون یا د الکول لرونکي محلول د لاس وینځلو او د ننوتلو او راوتلو په وخت کې د فزیکي واټن ساتلو په اړه لارښوونې باید د دغو روشونه یوه برخه وي. همدا راز ګډون وال باید له ماسک څخه هم استفاده وکړي. ټول هغه بلنلیکونه چې د سیاسي ګوندونو او نوماندانو له خوا استول کیږي باید د روغتیایي لارښوونو یوه برخه ولري چې په کې د ګډون کولو لپاره لازمي لارښوونې تشریح شوې وي. همدا راز ویناوال باید ټول هغه احتیاطي تدابیر چې د روغتیایي چارواکو لخوا یې سپارښتنه شوې وي په پام کې ونیسي: لکه د ماسک کارول، نورو ته د نږدې کېدو په وخت کې د فزیکي واټن مراعت کول او له خپلو پلویانو سره د روغ بړ او لاس ورکولو څخه په کلکه ډډه کول.

### کور په کور ټاکنیز کمپاین په اړه څرګندونې

هغه کسان چې کور په کور ټاکنیز کمپاینونه ترسره کوي هم باید د خطر کمولو تدابیر په پام کې ونیسي ترڅو بل کس سره خپل تماس محدود کړي او د پوسټرونو او نورو تبلغاتي موادو د انتقال پر وخت فزیکي واټن په پام کې وساتي. څرنګه چې پورته ذکر شول، دا ډېره مهمه ده ترڅو مبلیغین له نورو کسانو سره لازم فزیکي واټن په پام کې ونیسي؛ له ماسک او د ځان ساتنې له نورو شخصي توکو څخه استفاده وکړي او د موادو د تسلیمۍ په وخت کې د خطر د راکمولو ټول روشونه په پام کې ونیسي.
(د بیلګې په توګه: د دې پر ځای چې مواد مستقیم چا ته ورکړل شي د کور شاته دې پرېښودل شي)

### د کروناویروس (COVID-19) په تړاو د هغو ناسمو معلوماتو او ناندریو په اړه څرګندونې کوم چې د ګډون کچې یا پایلو کې د لاسوهنې په موخه کارول کیږي

د پیام محتویات د ټاکنیز کمپاین یو مهم اړخ دی. ښایي د عامې روغتیا ناورین په ترڅ کې، په واک کې ښکیل نوماندان او د اپوزیسیون نوماندان هڅې وکړي ترڅو د ټاکنو بهیر په اړه د بدلونونه او په دې اړه د خلکو د ویرې کچه ډیره لوړه وښیې او لدې امله سیاسي ګټې پورته کړي[۴۱]. د مثال په توګه: ښایي ځینې نوماندان هڅه وکړي ترڅو په ځینو برخو کې، چیرې چې د دوی د رأیو ترلاسه کولو احتمال کم وي، په ناروغۍ د اخته کیدو خطر په لوړ ښودلو سره د رایې ورکوونکو شمیر کم کړي؛ او یا د ټاکنو په جریان کې په ناروغۍ د اخته کیدو خطر لوړ ښودلو سره اړوندو کاندیدانو ته زیان ورسوي او داسې ګونګوسې خپرې کړي چې ګواکې دا ناروغۍ د یوې ځانګړې ډلې پورې مربوط ده او هغوی پرې اخته کیږي. نو لدې امله سپارښتنه کیږي ترڅو د ټاکنو د تنظیم ادارې له سیاسي ګوندونو سره په ګډه د کروناویروس په اړه د چارچلند اصول رامینځته کړي یا هغه د چارچلند په موجوده اصولو کې د یوې برخې په توګه شامل کړي، نو هغه څوک چې له دې اصولو سرغړونه کوي، سزا ورکړل شي. همدا راز د ټاکنیزو کمپاینونو نږدې څارنه وشي ترڅو سرغړونکي په ګوته او پر هغوی بندیزونه ولګول شي.


## د رأيې ورکوونکو روزنه

### د ناروغۍ او په اړه یې د احتیاطي تدابیرو نه د رأيې ورکوونکو د خبرولو په اړه څرګندونې

د ناروغۍ په اړه خبرداری یو مهمه مسئله ده ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې خلک د هغې په اړه معلومات لري او پدې پوهیږي چې ټاکنو کې د ګډون په وخت کې څنګه خپلې روغتیا ته پام وساتي او هغه بې‌ځایه ډار ته چې د رأيې ورکوونکو، د ټاکنو چارواکو او نورو ښکیلو خواوو ترمنځ موجود دې او کولای شي د ګډون کچه راټیټه کړي، د پای ټکی کیږدي. رأيې ورکوونکي باید د ویروس انتقال او د هغه انتقال څخه د مخنیوي لارو چارو په اړه مهم معلومات ترلاسه کړي. همدا راز د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د ویروس د خپریدو خطر د کمیدو او د خلکو د روغتیا لپاره د ټولو ترسره شویو تدابیرو په اړه رأيې ورکوونکو او نورو ښکیلو خواوو ته روښانه توضیحات ورکړي. د خلکو د ګډون په ټولو ځایونو کې باید د کروناویروس د انتقال په اړه روزنیز پوسټرونه وځړول شي او فلمونو او پیامونو خپاره د خلکو په واک کې ورکړل شي. د رأيې ورکوونکو او نوماندانو د نوم لیکنې، رأيې اچونې او د ټاکنیزو ادارو نورو دایمي دفترونو ته باید در کروناویروس د پوسټرونو او عامې روغتیا نورو پیامونو د خپرولو په اړه ځانګړې لارښوونې ورکړل شي.

د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د روزنیزو موادو د جوړولو په وخت کې د روغتیايي څیړنو ښه روشونو تعقیب کړي[۴۲]. لکه:

- **د پیامونو د شمیر محدودول:** په یوه وخت کې دې پر یوې موضوع بحث وشئ او درې تر څلورو پورې لارښوونې دې وړاندې شي. (د بیلګې په توګه: د لاس وینځلو په اړه یادونه او لارښوونې، پر مخ لاس نه وهل، منتنو وسایلو سره نه تماس کول، د تنفسي حفظ الصحې مراعت کول، د ماسک کارول)
- **رأيې ورکوونکو ته وویل شي چې څه وکړئ:** په نرم غږ او ملایم آواز سره رأيې ورکونکو ته وویل شي چې په کوم کار تمرکز وکړي نه دا چې کوم کار ترسره نکړي. (د مثال په توګه: د دې پر ځای چې "د لاسونو د تعقیم نه پرته رأيه مه ورکوي یا خپل ځای مه پریږدي" ښه دا ده چې وویل شي "د رأيې ورکونې د مخه او وروسته خپل لاسونه ومینځې")؛




**د ایبولا په جریان کې روزنیز مواد، د لیبریا ټاکنې ۲۰۱۴**

- **د کلیماتو انتخاب:** د روښانتیا لپاره، باید له آشنا، لنډو او ساده جملو څخه کار واخیستل شي. د علمي، تخنیکي او مخففاتو د کارولو څخه دې ډډه وشئ. همدا راز ژبه باید له دودایز اړخه مناسبه وي.
- **د انځورونو انتخاب:** د حروفو سایز باید غټ وي چې په آسانۍ ولوستل شي او هغه ډول انځورونه وکارول شي چې روغتیا ښکاره کوي. انځورونه باید لوړ کیفیت ولري ترڅو په غټو اندازو کې چاپ کړای شي او له دودیزه اړخه نه هم د منلو وړ وي.

همدا راز د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د رأيې ورکونکو د روزنې له لارې د هغو ناسمو معلوماتو او زړه بغنونکو خبرو په ضد مبارزه وکړي چې د تجرید شویو ډلو په اړه وویل کیږي.

### رأیې ورکوونکو ته د ټاکنو نویو پړاونو په هکله د معلومات ورکولو په اړه څرګندونې

خلک نه یوازې دا چې د ویروس خپرېدو د څرنګوالي په اړه بلکې د ټاکنو هر پړاو په اړه - چې د بدلون راوړلو امکان یې موجود وي - باید پوره معلومات ولري ترڅو د هغو پر بنسټ خپل احتیاطي روغتیايي تدابیر ونیسي. د بېلګې په توګه: که چېرې د ویروس خپرېدو د مخنیوي په موخه، رأیې ورکوونکې لدې وروسته خپل هویتي اسناد د ټاکنو کارکوونکو ته نه سپاري؛ نو د هغوي د پېژندنې اسنادو د تصدیق لپاره نوي لارښودونه باید د عامه خدماتو د پیامونو او نورو تبلغاتي لارو په ذریعه خلکو ته توضیح شي. همدا راز دغه لارښودونه د رأیې ورکوونې په محلونو کې وځړول شي او د اړتیا په صورت کې د محل کارکوونکو لخوا یو ځل بیا رأیې ورکوونکو ته توضیح شي. همدا راز د ټاکنو د تنظیم اداري دې په دې اړه د مدني ټولنو او نورو سازمانو سره په همغږۍ، د تجرید شویو ډلو د رأیې ورکوونکو د روزنې په اړه ډاډ ترلاسه کړي او پیامونه دې د زیرنویسو او اشارې ژبې په کارولو سره د لاسرسي وړ وګرځي.

که چېرې د ټاکنیزو فعالیتونو لکه د رأیې ورکوونکو نوم لیکنې، د نوماندانو معرفي کولو او یا د رأیې اچونې لپاره نوي روشونه کارول کیږي، نو د ټاکنو د تنظیم اداري باید خلکو ته د هغو د څرنګوالي په اړه معلومات ورکړي. آنلاین او پُستي فورمونه باید د امکان تر حده پوري ساده وي او مفصلې لارښوونې ولري؛ همدا راز پدې اړه د خلکو له اجراأتو څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره باید تائیدی ایمیلونو له خلکو نه ترلاسه شي. د نویو روشونو او ټکنالوژۍ معرفي کول بنایې د خلکو په تېره بیا د تجرید شویو ټولنو ترمینځ دا شک را پیدا کړي چې کواکې، یو څو خواوي غواړي د دغه بهیر د مشروعیت د کمزوروولو له لارې، کټې پورته کړي. نو لدې امله د معلوماتو روڼتیا او د نویو روشونو څخه د خلکو ملاتړ د پایلو د منلو لپاره خورا مهم ګڼل کیږي.

"... د نویو روشونو او ټکنالوژۍ معرفي کول بنایې د خلکو په تېره بیا د تجرید شویو ټولنو ترمینځ دا شک را پیدا کړي چې کواکې، یو څو خواوي غواړي د دغه بهیر د مشروعیت د کمزوروولو له لارې، کټې پورته کړي. نو لدې امله د معلوماتو روڼتیا او د نویو روشونو څخه د خلکو ملاتړ د پایلو د منلو لپاره خورا مهم ګڼل کیږي."

## د رأیې ورکوونکو نوم لیکنه

### د رأیې ورکوونکو د نوم لیکنې امکاناتو په اړه څرګندونې

د رأیې ورکوونکو د نوم لیکنې لپاره د هر هیواد قانوني چوکاټ فرق کوي. تر ټولو ساده لار چې شاوخوا ۳۶ هیوادونو لخوا کارول کیږي[۴۳] دا ده چې د ټاکنو د تنظیم اداري د رأیې ورکوونکو لست په مستقیم ډول د نفوسو د ثبت اداري یا مالیاتي سازمانونو څخه ترلاسه کوي. وروسته بیا د ټاکنو د تنظیم اداري د شرایطو وړ رأیې ورکوونکو لپاره د رأیې اچونې محل مشخص کوي او هغوي ته د ایمیل، پُستې یا یو لنډ پیام له لارې خبر ورکوي. خو په ډېری هیوادونو کې بیا د احتمالي رأیې ورکوونکو او د ټاکنو مسئولینو ترمینځ د معلوماتو تبادله په حضوري او یا غیر مستقیم شکل لکه د پُستي فورمونو یا آنلاین نوم لیکنې له لارې ترسره کیږي.

د نوم لیکنې یو شمیر پړاونه، په تېره بیا د نوم لیکنې په پیل او پای کې، د خلکو د ګڼګوڼې لامل ګرځي؛ ځکه چې د ټاکنو د تنظیم اداري او سیاسي ګوندونه د خلکو د ګډون لپاره یو راز غوزښتونه په لاره اچوي. څرنګه چې د حضوري نوم لیکنې خطرونه د رأیې اچونې بهیر خطرونو ته ورته دي، نو د آنلاین نوم لیکنې په صورت کې د دغو خطرونو احتمال کې د پام وړ کموالی په ګوته کیږي؛ ځکه چې یو کم شمیر خلک په عین ورځ نوم لیکنه کوي. سربېره پر دې د ټاکنو چارواکو، رسنیو شـنونکو، ملي او نړیوالو څارونکو او د ګوندونو د استازو شمیر کې هم د پام وړ کموالی په سترګو کیږي چې دا کار د فیزیکي واټن ساتل آسانه کوي. سربېره پردې د خلکو ګڼګوڼې څخه د مخنیوي په خاطر د ټاکنو د تنظیم اداري کولای شي، د قانوني واک درلودلو په صورت کې د نوم لیکنې موده تمدید کړي. د رأیې اچونې محلونو د غوراوي او تنظیم او د تعقیم امکاناتو په اړه وړاندیزونه د "رأیې اچونې محل عملیات" په برخې کې موندلی شي.

### د رأیې ورکوونکو د نوم لیکنې وسایلو او تجهیزاتو په اړه څرګندونې

په تېرو دوه لسیزو کې یو شمیر هیوادونو د درغلیو د کمولو لپاره د بایومتریک نوم لیکنه د یوې اغیزمنې حل لارې په توګه معرفي کړې ده. دغه روش د رأیې ورکوونکو پر نوم لړ هم د خلکو د اعتبار کچه لوړه کړې ده؛ خو په حین حال کې یې د نوم لیکنې بهیر پیچلی کړی او د ناروغی د خپرېدو امکان یې زیات کړی دی. سر لدې چې د بایومتریک په بسته کې له لپ ټاپ کمپیوټرونو، دیجیتال کمرو او د ګوتو نښو اخیستلو اسکنرونو څخه کار اخیستل کیږي، د نوم لیکنې مسئولین کله د عادي فورمونو ډکولو ته هم اړتیا لري. خو که نوم لیکنه په هر ډول ترسره شي، څه هغه بایومتریک وي یا د فورمونو ډکول، د ټاکنو د تنظیم اداري باید د دې توان ولري چې د کروناویروس د خپرېدو خطر د پام وړ کچې ته راټیټ کړای شي.

هغه خلک چې د رأیې ورکولو لپاره نوم لیکنه کوي، مجبور دي چې ډکې شوې فورمې او خپل د هویت اسناد د نوم لیکنې مسئولینو ته وسپاري. دغه اسناد او فورمې، د هغو نوعیت ته په کتو سره، بنایې د یوې مودې لپاره په ویروس ککړې پاتې شي[۴۴]، ځکه نو د امکان په صورت کې باید د څو ورځو لپاره هغو سره د تماس نیولو څخه ډډه وشي. همدا راز د عادي وسایلو او توکو څخه په ګډه کار اخیستل (د فورمونو او رایه پاڼو ډکولو لپاره د کډ قلم کارول) د ویروس د خپرېدو امکان زیاتوي. ځکه نو د ټاکنو د تنظیم اداري باید راجستر کوونکي وهڅوي ترڅو له خپلو قلمونو څخه استفاده ورکړي او دا غوښتنه او نورې لارښوونې په روښانه خط او په

رنګه قلم ولیکې او د ټولو ټاکنیزو فعالیتونو په ترڅ کې هغه ته پام وکړي. همدا راز د نوم لیکنې اداره باید یو ځل کارونکي قلمونو د راجسټر کوونکو په واک کې ورکړي او د هغو د خوندي لرې کولو څخه ډاډ ترلاسه کړي؛ ځکه چې د هر قلم پر له پسې پاکول ډېر وخت نیسي.

د ویروس د خپریدو خطر ستر عامل د دې ډېر په ترڅ کې د راجسټر کوونکو او چارواکو ترمینځ د مناسب واټن ساتل دي. ځکه نو پدې اړه باید روښونه جوړ شي او له رأیې ورکوونکو څخه وغوښتل شي چې خپل اړوند اسناد د میز پر سر په یو پاک ځای کې کیږدي او بیرته خپل تعیین شوي شپږ فوټه فاصله ته ولاړ شي. نو مسئولین کولای شي دغه اسناد ترلاسه او د هغوی نوم، عکس او لاس‌لیک تصدیق کړي. بله د بدیل لاره دا ده چې د نوم لیکوونکو او نوم لیکنې مسئول کس میز ترمینځ فاصله د یو شیشه‌ای مانع په نصب کولو سره جلا شي او دا شیشه په پرله پسې توګه پاکه شي. د فورمونو د ډکولو لپاره مشخص شوي ځایونه په پرله پسې توګه پاک کړای شي او د خلکو ترمینځ واټن مراعت شي.

په هغو هیوادونو کې چې د نوم لیکنې لپاره له بیلابیلو ټکنالوژیو څخه استفاده کوي، لکه د ګوتو نښان اخیستلو اسکنر، دیجیټال کمرې او د سترګو د ظبط دستګاه، باید یو لړ مشخص اضافي روښونو تر لاس لاندې ونیول شي. د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د وسایلو او تجهیزاتو د پاک کولو د څرنګوالي لپاره د وسایلو جوړونکو شرکتونو سره په تماس شي ترڅو پدې اړه لازمې لاربښوونې ترلاسه کړي. د امریکا متحده ایالاتو د ټاکنو څخه د ملاتړ کمیسیون د جوړونکو او پیریدونکو کمپنیو یو لست جوړ کړی دی چې د وسایلو د پاکولو په اړه ګټورې لاربښونې په کې شاملې دي[45]. بې تماسه د ګوتو نښان اخیستلو او د څیرې پیژندلو ټکنالوژۍ د موجودیت په صورت کې یو ښه بدیل دي ځکه چې د ویروس د منتن کیدو نه مخنیوی کوي. د څیرې نوې ټکنالوژي کولای شي د ماسک په صورت کې هم د رأیې ورکوونکي څیره تشخیص کړي. همدا راز مسئولین باید د رأیې ورکوونکي د عکس اخیستلو او د څیرې د تشخیصولو په وخت کې فیزیکي واټن ته پام وساتل. د عکس اخیستلو پر وخت باید لږ ته لږه د کمرې او کس ترمینځ شپږ فوټه مسافه موجود وی؛ څرنګه چې د بایومتریک په یو شمیر دستګاوو کې دننه کمره نصب ده چې دا کار مسئولین دې ته اړ باسي چې هغه کس ته نږدې شي؛ نو پدې وخت کې باید مسئولین د ځان ساتنې له قوي وسایلو څخه استفاده وکړي.

که چیرې د نوم لیکنې په ترڅ کې څوکسه له یو لپ ټاپ او یا ډسک ټاپ څخه استفاده کوي نو د هر یو د کار په پای کې باید لپ ټاپ او ډسک ټاپ پاک کړای شي او همدا راز نور جانبي وسایل له موس، کیبورډ او مانیټور هم باید تعقیم شي.

## د رأیې اچونې محل د کارکوونکو استخدام او روزنه

### د رأیې اچونې محل کارکوونکو د استخدام په اړه څرګندنې

پداسې حال کې چې هیڅ وکړی په ټاکنو کې د محل کارکوونکي په توګه د خدمت له حق څخه محروم نه شي؛ په استثنایي حالاتو لکه د عامې روغتیا ناورین په ترڅ کې د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د استخدام ډېر کې یو شمیر محدودیتونه او خبرداري په پام کې ونیسي. په لومړي سر کې د عامې روغتیا کارکوونکي دي. د عامې روغتیا د ناورین په ترڅ کې لکه د کروناویروس اوسنې بحران روغتونونه او د عامې روغتیا د لومړې پاملرنې نور مرکزونه له ناروغانو څخه ډک کړي دي او دا ځایونه روغتیایي کارکوونکو ته ډیره اړتیا لري. نو د ټاکنو د تنظیم ادارې باید روغتیایي کارکوونکي د رأیې اچونې په محل کې له خدمت څخه معاف کړي؛ په تیره بیا په هغه هیوادونو کې چې دا کار اجباري دي. همدا راز هغه کسان چې د ناروغیدو امکان یې لوړ دی، یا جدي ستونزې لري او یا هم د مړینې کچه یې لوړه ده، باید پدې برخه کې له کارکولو څخه معاف شي. د کروناویروس پیښنو ښودلې چې دغه ناروغي د زاړه او ناروغه کسانو لپاره جدي ګواښ پیښنوي ځکه نو د ټاکنو د تنظیم ادارې باید دغه کسان له خدمت نه معاف کړي یا د هغوی لپاره لږ تر لږه د ځان ساتنې وسایل، مناسب امتیازات او د کار لپاره خوندی او مناسب ځای په پام کې ونیسي.

د کروناویروس له امله د رأیې ورکونې د کېدون په کچه کې د احتمالي کمښت سره سره، د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د رأیې اچونې محل ډیرو کارکوونکو ته روزنې په پام کې ونیسي[46]. ځکه چې ښایې یو شمیر کارکوونکي ناروغه شي؛ یا مجبور شي د خپلو خپلوانو د مراقبت لپاره په کور کې تم شي؛ او یا هم د ویروس له ویرې د ټاکنو ورځې وړاندې خپله دنده پریږدي. نو پداسې حالاتو کې مهمه ده چې نور روزل شوي کارکوونکي موجود وي ترڅو د هغوی ځای ناستې شي.

### د رایې اچونې محل کارکوونکو د حضوري روزنې په اړه څرګندونې

د عامې روغتیا ناورین په ترڅ کې باید د محل کارکووني او نور چارواکي د معمولې روزنې ترڅنګ د ویروس د څرنګوالي او په تیره بیا د هغه د خپریدو او مخنیوي په اړه یو لړ نورې روزنې هم ترلاسه کړي. همدا راز د محل کارکوونکي باید د خپل ځان او د رأیې ورکوونکو د روغتیا ساتلو د څرنګوالي په اړه لازمې لاربښونې ترلاسه کړي. لکه د لاس وینځلو د څرنګوالي په اړه لاربښونې، د ماسک او دستکشو نه د سمې استفادې طریقه، د قطارونو کنترول او رأیې ورکوونکو ته د ډېر په ترڅ کې د مناسب سلوک لاربښونې. دغه ټولې لاربښوونې او همدا راز هغه نور ځانګړي تدابیر چې د محل کارکوونکو او رأیې ورکوونکو لخوا عملي کیږي باید په روزنیزو موادو کې شامل شي.

همدا راز د ټاکنو د تنظیم ادارې باید په پام کې ولري چې د عامې روغتیا د ناورین په ترڅ کې د نویو روښونو د معرفي کولو په صورت کې حتی با تجربه کارکوونکي هم اضافي روزني ته اړتیا لري. ټول دغه نوي مطالب باید په روزنیزو موادو کې په روښانه شکل توضیح شي او د محل کارکوونکو په واک کې ورکړل شي ترڅو د هغو په اړه

خپلې پوښتنې وړاندې، په اړه یې ړنا واچوي او له پوهیدو یې ډاډ ترلاسه کړي. د حضوري روزنې په صورت کې د ټاکنو مسئولین باید د صنفونو اندازه (محدودیتونو ته په پام سره د ګډون کوونکو شمیر په هر زمان کې) او د ګډون کوونکو ترمنځ واټن په پام کې ونیسي او د اړتیا په صورت برنامې په پراخو ځاینو کې ترسره کړي. همدا راز د روزنې پر ترڅ کې د لاسونو د وینځلو او د سطحو د پاکولو لپاره ټول د اړتیا وړ مواد چمتو شي (پدې اړه د جزئیاتو لپاره "د رأیې اچونې محل عملیات" برخې ته مراجعه وشي. په ټول محل کې دې د لاس وینځلو او شخصي حفظ الصحې ساتلو په اړه د لارښووونو پوسټرې وځړول شي.

### د مجازي او لرې واټن روزنې په اړه څرګندونې

که چیرې د رأیې اچونې محلونو د کارکوونو روزنه، له لارې واټن په تیره بیا په مجازي او آنلاین شکل ترسره شي، نو د خلکو د راټولیدو مسئله حل کیږي خو بیا یو شمیر نور کړکیچونه رامینځته کوي. د ټاکنو د تنظیم اداري باید ډاډ ترلاسه کړي چې د محل ټول کارکوونکي دغو صنفونه ته په آسانې لاسرسی لري چې دا کار د هیواد او ټولنیزو سیمو په کچه چټک انټرنیټ او د ټکنالوژۍ شتون ته اړتیا لري. همدا راز د روزنې فارمټ باید جامع وي ترڅو ټول کسان د معلولینو او هغه کسانو چې ټکنالوژۍ سره دومره بلد ندې، په شمول له هغو نه برخمن شي. همدا راز د ټاکنو د تنظیم اداري کولای شي د محل کارکوونکو ته کمپیوټر او انټرنیټ برابر او د هغو لپاره مرسته کوونکې وټاکې ترڅو خپله روزنه پوره کړي. د دغو روزنو لپاره ځای باید له ټولو معیارنو سره برابر وي او د لاس وینځلو او فیزیکي واټن ټول شرایط په کې په پام کې نیول شوي وي. (د بیلګې په توګه: د کمپیوټر استفادې وروسته د لاسونو وینځل او د شیږ فوتو واټن ساتل)

د هغو اقداماتو ترڅنګ چې د روزنې په ترڅ کې د رأیې اچونې محل د کارکوونکو لپاره په پام کې نیول کیږي، د ټاکنو د تنظیم اداري باید یو شمیر داسې روښونه په پام کې ونیسي چې پر مټ یې د کارکوونکو د روزنې د پوره کیدو او پر هغه د پوهیدو څخه ډاد ترلاسه کړي. پداسې حال کې چې د روزنې برنامې له لرې واټن څخه ترسره کیږي نو دا به ټاکنیزو ادارو ته ستونزمن کار وي چې پدې پوه شي چې زده کوونکي خپل درسونه تعقیب وي، مواد لولي او مطالبو ته پام کوي. نو کله چې د مجازي روزنې لپاره مواد تهیه کیږي، ټاکنیزي اداري باید یو لړ آزموینې او د روزنې د مخه او وروسته تستونه په پام کې ونیسي ترڅو د روزنې د اغیزمنتیا څخه څارنه وکړي. د سند د ترلاسه کولو لپاره باید زده کوونکي یوه شه نمره ترلاسه کړي.

## د ټاکنو ملي او نړیوال څارونکې او د ګوندونو استازي

### د ټاکنو څارونکو د استخدام او اعزامولو په اړه څرګندونې

د ټاکنو څارونکي او سیاسي ګوندونه د ټاکنو بهیر نه بیلدونکي برخه ده چې د رأیې اچونې په محلونو کې د بې‌نظمیو او درغلیو مخنیوی کوي. نو د دوي پر وړاندې د خطر د راکمولو لپاره باید ټاکنیزې ډلې، څارونکي بنسټونه او سیاسي ګوندونه، د رأیې اچونې محلونو ته د هغوي د شمیر کمول یا په دوره‌ای شکل لیږل په پام کې ونیسي. سربیره پردې څارونکي او د سیاسي ګوندونو استازي باید له رأیې ورکوونکو او ټاکنیزو چارواکو سره د تماس نه ډډه وکړي او د خپل ځان د سلامتیا لپاره فیزیکي واټن وساتې. همدا راز دوي باید د خطر کولو لپاره د ماسک څخه استفاده وکړي.

همدا راز د رأیې اچونې محلونو د کارکوونکو په څیر، څارونکي بنسټونه او سیاسي ګوندونه باید د رأیې اچونې محل ته د خپلو څارونکو او استازو له استولو وړاندې هغوي ته د کروناویروس د خپریدو، د ځان ساتنې شخصي وسایلو د استفادې، د لاسونو وینځلو او د تنفسي حفظ الصحې د ساتلو په اړه روزنه ورکړي. سربیره پردې، د ټاکنو د تنظیم اداري، سیاسي ګوندونه او څارونکې ډلې باید زیان منونکي کسان او د عامې روغتیا کارکوونکي پر ټاکنو د څار له خدمت څخه معاف کړي او باید ډاډ ترلاسه کړې چې هغوي د خپل ګډون د خطر په اړه معلومات ترلاسه کړي دي.

### څارونکو او د ګوندونو استازو ته د اعتبار لیک صادرولو په اړه څرګندونې

که څه هم څارونکي او د ګوندونو استازي بیلابیلې دندې ترسره کوي، دواړه باید د کار پیل څخه وړاندې د ټاکنیزو ادارو څخه اعتبارلیک ترلاسه کړي. دا پدې معنا ده چې د ټاکنو چارواکي مجبور دي د یوې خورا محدودې مودې په اوږدو کې د باورلیکونو لپاره یو لوی شمیر غوښتن‌لیکونه ترلاسه او هغه پروسس کړي، چې دا کار د اعتبارلیک ورکونې بهیر نور هم پیچلی کوي. په نورمال ډول، لومړی باید ځایي بنسټونه د ټاکنو د تنظیم ادارو ته د اعتبار لیک د ترلاسه کولو لپاره غوښتنه وکړي؛ ترڅو هغو ته د ټاکنو څخه د څار اجازه ورکړل شي. د جواز ترلاسه کولو وروسته، هر سازمان د خپلو څارونکو لپاره د اعتبار لیک غوښتنه کوي. په ځینو مواردو کې دا کار په آنلاین شکل د یو مشخص شوي ویب سایټ په کارولو سره ترسره کیدی [۴۷]. د ټاکنیزو ادارو د تائید وروسته، جوړ شوي اعتبار لیکونه [کارتونه] څارونکو بنسټونو ته استول کیږي ترڅو د هغوي په څارونکو و ویشل شي. سربیره پردې یو لړ نورو مراحلو ته اړتیا شته چې هر څارونکي باید د هغو د پوره کولو لپاره د ټاکنو اړوند دفتر ته په خپله مراجعه وکړي. پدې دفترونو کې د چارواکو یو ټیم فورمونه ترلاسه او بیا هغه پروسس کوي او په اعتبار لیکونو کې د څارونکو شخص معلومات د عکس په شمول درج او کارتونه صادروي. په یو شمیر هیوادونو کې مسئولین عکس د دفتر دننه اخلي. کله یو څه پیسې هم په نقدي توګه یا د کارت له لارې تحویل کیږي. د سیاسي ګوندونو استازو ته د اعتبار لیکنو صادرول په دوه مرحلو کې ترسره کیږي؛ سره لدې هم ټاکنیزې اداري یو شمیر ګوندونه او نوماندان چې په بریالیتوب سره یې نوم لیکنه کړې وي، په اتومات ډول د شرایطو واجد ګڼي. پدې بهیر هم د یو کس له بل کس سره د تماس امکان په سترګو کیږي؛ څکه چې د ګوندونو استازي هم باید د اعتبار لیکونو د لاس‌لیک کولو، د عکس اخیستلو او د کارت ترلاسه کولو لپاره اړوندو دفترونو ته مراجعه وکړي.

د ټاکنو د تنظیم ادارو هغه دفترونه چې د ټاکنو څارونکو او د ګوندونو استازو ته د باور لیکونو د صادرولو مسؤلیت په غاړه لري، د ویروس خپریدو د خطر کمولو لپاره، د رأیې ورکوونکو نوم لیکنې او د رایې اچونې محلونو په شان د روغتیایي روښونو استفادي ته اړتیا لري. په هغو ځایونو کې چې د شخصي معلوماتو او عکسونو ترلاسه کولو لپاره د باور لیکنو د یو منظم کمپیوټري سیسټم نه کار اخیستل کیږي، هغه ستندرد روښونه چې د تخنیکي وسایلو د عملیاتو په اړه بیان شوي دي، باید په پام کې ونیول شي. د نورو جزئیاتو لپاره "د رایې ورکوونکو نوم لیکنه" او "د رایې ورکولو عملیات" وګورئ. سربیره پردې، د اسنادو مناسبه راکړه ورکړه، د فورمونو لاس لیک او د هغو ځایونو پاکول چې په عادي او پرله پسې ډول کارول کیږي باید د باورلیک ورکولو بهیر په جریان کې ترسره شي. که امکان ولري، ټاکنیزې ادارې دې د باورلیک صادرولو آنلاین پروسه معرفي کړي ترڅو د حضوري بارولیک ورکولو ته اړتیا کمه شي. همدا راز ټاکنیزې ادارې باید دغه ټول ملاحظات د ټاکنو څارونکو او د ګوندونو استازو ته د باورلیکونو د ورکولو په لاربنود کې هم شامل کړي.

## دوهم پړاو: د ټاکنو ورځ او د ټاکنو وروسته فعالیتونه

### د رأیې اچونې په محلونو کې د رأیې ورکونې بهیر

د ټاکنو په ورځ، د رأیې ورکولو بهیر، معمولا هغه وخت دي چې په لوړه کچه خلک په یو ځای کې سره راټولیږي او له یو بل سره په تماس وي؛ چې دا وضعیت د کروناویروس خپریدو لپاره ترټولو زیات فرصت رامینځته کوي. همدا راز ډیری خلک پدې ورځ د رأیې ورکونې بهیر له نږدې څارې او د کړنلاور د مناسبتوب او ټاکنو د روغتیا او اعتبار په اړه خپل نظر څرګندوي. له نیکه مرغه چې د رأیې اچونې محل هغه ځای دی چیرې چې ټاکنیزې ادارې کولای شي تر ټولو ډیر کنټرول ولري او باید هڅې وشي چې د ویروس خپریدو خطر صفر ته ورسیږي. حتی که په کروناویروس اخته کوم رأیې ورکونکی یا د محل کارکوونکی نښې نښانې هم و نه لرې خو بیا هم کولای شي نور په ناروغۍ اخته کړي. ځکه نو باید پوره احتیاطي تدابیر ونیول شي ترڅو د هر چا خوندیتوب څخه ډاډ ترلاسه شي.

### د رأیې ورکونې محلونو د موقعیت په اړه څرګندونې

د هوا موسم ته په کتو سره (د "ټاکنو پلان کولو او سرچینو" برخه وګورئ) خراب موسم کولای شي، ټاکنې اغیزمنې کړي او د دې سبب شي چې زیات شمیر خلک په یو سر پټ ځای کې سره راټول شي. نو لدې امله د ټاکنو چارواکي باید لوی ځایونه او پراخې سیمې په ګوته کړي، ترڅو د باران او یا لمر وړانګو په صورت کې زیات شمیر خلک په خوندي توګه پکې ځای شي. ودانۍ باید پرانستې فضا یا څو کړکې او دروازې ولري ترڅو د طبیعي هوا د ننوتلو زمینه مساعده وي. که امکان ولري صفونه او قطارونه په داسې شکل تنظیم شي چې د باد د لږیدو امکان کم او په ویروس ککړو څاڅکیو د انتقال مخه ونیسي. دا محلونه په عامه ودانیو او نورو عامه ځایونو کې جوړیدای شي، خو ځای یې باید له وړاندې غوره شوي وي. د ټاکنو چارواکي باید ډاډ ترلاسه کړي چې غوره شوې ودانۍ د لاسرسې وړ دي او په اړه یې معلومات ورکړل شوې دي؛ ځکه نو دوي کولای شي رأیې ورکونکو ته د خوندي ننوتلو او وتلو میتودونو د پلي کولو، د فیزیکي واټن ساتلو او د لاسونو د تعقیم کولو لاربښونې برابرې کړي.

سربیره پردي چې د رأیې اچونې محلونه په مناسبو او سر ټړلو ودانیو کې جوړیږی، د ټاکنو د تنظیم ادارې باید ډاډ ترلاسه کړي چې دغه محلونو د لاسرسی وړ دی او د زیان منونکو ډلو لپاره د ویروس د خپریدو خطر نه زیاتوي. د بیلګې په توګه: که ماشومانو ته زیان رسیږی نو محلونه باید د ښوونځیو څخه لرې انتخاب شي. د کروناویروس په اړه چې دا ناروغۍ زاړه خلک او ناروغه کسانو ته خطر پیښوی، نو د ټاکنو د تنظیم ادارې باید محلونه د دغه خلکو د استوګن ځای لکه روغتونو او د پاملرنې کورونو څخه لرې جوړ کړي. باید دا مهم ټکی په پام کې وساتل شي چې دا څرګندونې په هیڅ ډول نشي کولای زیان منونکې خلک د رأیې ورکولو له حق څخه محروم کړي. د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د هیواد قانوني جوړښت ته په کتو سره، هغوي ته د حل بدیل لارې په پام کې ونیسي لکه غیابي رأیه کارول یا پُستي رأیه ورکونه؛ او یا هغوي ته د وکالت اجازه ورکړل شي او یا هم د رأیې ورکولو لپاره، ورته یو ځانګری وخت ورکړل شي، ځکه نو دوي به بیا مجبور نه وي په اوږدو قطارونو کې تم پاتې شي.

## د رأیې اچونې محل د تنظیماتو په اړه څرګندونې

د رأیې اچونې په هر محل کې دننه تنظیمات باید په دقیق شکل پلان شي. د کارکوونکو میزونه او څوکې باید د فیزیکي واټن په پام کې نیولو سره کېښودل شي او چارواکې باید د رأیې ورکوونکو د حرکت مسیر د رأیې ورکونې په هر پړاو کې کنترول کړي؛ ترڅو د رأیې ورکوونکو د تماس مخه ډپ شي او د وسایلو د تعقیم لپاره وخت برابر شي. د ټاکنو د تنظیم اداري باید د هر هغه اقدام مخه ونیسي کوم چې د وسایلو سره د غیر ضروري تماس لامل کیږي. د مثال په توګه: د ټاکنو د تنظیم اداري کولای شي د دروازو دستګیر سره د مخنیوي په موخه د کمو دروازو لرونکې ودانۍ یا د اتومات دروازو ودانۍ انتخاب کړی. همدا زار د رأیې ورکونې ځای د جلا کولو لپاره د پردو پر ځای د ثابتو غرفو څخه کار واخیستل شي؛ ترڅو شیانو سره د تماس مخه ونیول شي. اوږدې او څو نفره څوکې او نور غیر ضروري شیان باید له سیمې نه لرې کړای شي. د شتون په صورت کې د میزونو پر سر شیشې نصب شي ترڅو د کارکوونکو او رأیې ورکوونکو ترمنځ د تماس مخه ونیول شي او دغه شیشې باید په دوامداره توګه پاکې شي.



*که څه هم په اوکراین کې دغې پردې د رأیې محرمیت ساتلی خو د کرونا په ترځ کې باید له هغې څخه ډډه و شي ترڅو د ویروس د خپریدو امکان کم شي.*

## د قطارونو او د ننوتلو او راوتلو لارو د تنظیم په اړه څرګندونې

څرنګه چې د ټاکنو ورځ د خلکو د راټولیدولو د اوج ورځ ده نو د ویروس د خپریدو خطر ګواښ هم ډیر اوچت وي. که څه هم په ټولو ټولنیزو غونډو کې باید د فیزیکي واټن د ساتلو عمومي اصول مراعت شي، خو د ټاکنو په ورځ باید ځانګړي مقررات د ساده سیستمونو په کارولو سره پلي شي. څرنګه چې وړاندې ورته اشاره وشوه – د قطارونو ترمینځ باید فیزیکې واټن په پام کې ونیول شي. د واټن ساتلو لپاره باید په هره شپږ فوت مسافه کې رسې او پړي وکارول شي او ځمکه کې نښه شوي تیپونه ولګول شي. په قطارونو کې د دریدو لپاره د اړین واټن ساتلو په اړه د روزنې پوسټرې نصب شي او د ویروس د خپریدو په اړه خبرداري ورکړل شي. او په قطارونو کې د خوندی فاصله د ساتلو د کنترول لپاره مسئول کسان و ګمارل شي.

د رایې اچونې په ترځ کې د رأیې ورکوونکو د تماس نه د مخنیوي په خاطر باید له پیل تر پایه پورې خوندی لارې مشخصې شي؛ ترڅو رأیې ورکونکې په ډاده توګه تیر او بیر شي. د کروناویرس په مورد کې، باید رأیې ورکونې په وخت او هم له هغه وروسته لاسونه ومینځل شي. رأیې ورکوونکو ته لاربښوونه کیږي چې د رأیې ورکولو په جریان ماسک وکاروي؛ ترڅو د تنفسي څاڅکو د انتقال مخه ونیسي. د مسلکي ماسکونو د کمښت په صورت کې رأیې ورکوونکي کولای شي د کور جوړ شوي تکه‌ای ماسکونه وکاروي.

هغه په کروناویروس اخته کسان چې د رایې اچونې محل ته د تګ وس ولري، باید لاربښونه ورته وشي چې له ځانګرو محلونو، قطارونو او غرفو نه استفاده وکړي یا په ټاکلي وخت کې د رایې ورکولو محل ته ولاړ شي؛ ترڅو د سالم خلکو سره د هغوي د تماس نه مخنیوي وشي. د ټاکنو کارکوونکي چې د ځانګرو رأیې ورکولو مرکزونو کې په دنده ګمارل کیږي باید له اضافي محافظتي وسایلو لکه یو ځل مصرف کالي او د مخ طبي محافظتي وسایلو سره ملبس شي. د ټاکنو د تنظیم اداري باید د دغو کارکوونکو د کار څخه ډاډ ترلاسه کړي او د هغوي لپاره زیات امتیازات په پام کې ونیسي.

ټاکنیز بنسټونه باید د زیان منونکو خلکو د رأیې ورکونې لپاره یو ځانګړی وخت وټاکي یا د دوي لپاره جلا کرښې جوړې شي ترڅو د خپل وخت ضایع کیدو مخه ونیسي.

## د رأیې اچونې او د رأیې ورکوونکو د تصدیق په اړه څرګندونې

بیلابیل هیوادونه د رایې ورکوونکو د تصدیق لپاره بیلابیل شرایط او د رایې ورکولو لپاره بیلابیل میتودونه کاروي. د مثال په توګه: د رأیې ورکونکو د تصدیق میتودونه بنایې د ګوتو نښه اخیستل، د هویت سند وړاندې کول یا د رایې ورکوونکو لست لاسلیک کول وي. کیدای شي رأیه ورکونه د رایې پاڼو په نښه کولو یا د بریښنایي ماشینونو په کارولو سره ترسره شي. خو نږدې ټول دا روشونه وسایلو سره تماس ته اړتیا لري. د نورو محافظتي تدابیرو ترڅنګ، د تصدیق او رأیه ورکولو په ترځ کې باید یو شمیر روغتیایي وړاندیزونه په پام کې ونیول شي ترڅو د وسایلو او توکو سره د تماس کچه راټیټه کړي؛ همدا راز ډاډ ترلاسه شي چې ناروغه کسان وسایل نه ککړ وي او منتن شوي وسایل په پرله پسې توګه تعقیم کیږي چې د نورو د منتن کیدو څخه ډډه وشي.

د بیلګې په توګه: کیدای د رأیې ورکوونکو د هویت د تصدیق لپاره د خوندي روشونو په کارولو سره د غیر ضروري تماسونو څخه ډډه وشي. پدې شکل چې هر رأیې ورکونکې لومړي خپل د هویت کارت او نور اړوند اسناد د یو پاک میز پر سر کیږدي او په خپله په قطار کې دریږي. نو مسئول کس کولای شي، پرته لدې چې په

اسنادو لاس و وهي، د رأیې ورکوونکي نوم، عکس او لاس لیک چک او تائید کړي. که چیرې د رأیې ورکوونکي د تصدیق لپاره امضا ته اړتیا وي او یا کله چې رأیې ورکوونکي مجبور وي چې رأی پاڼه په نښه کړي، نو د ټاکنو د تنظیم ادارې باید هغوي ته یو ځل کار قلم هم ورکړي او یا هغوي وهڅوي ترڅو له خپلو قلمونو څخه کار واخلي. او یا هر قلم د استفاده کولو وروسته تعقیم شي چې دا په خپله ډیر وخت ضایع کوي. د نوم لیکنې دفتر د ککړتیا نه د مخنیوي په خاطر د هر پړاو وړاندې باید لاسونه ومینځل شي. رأیې پاڼو ته د زیان رسولو د مخنیوي په موخه لاسونه باید په پوره توګه وچ شي.



نه پاکیدونکي رنګ چې د کارکوونکي او رأیې ورکوونکي لخوا کارول کیږي؛ د ویروس د خپریدو خطر له یو کس نه بل کس ته ډیروي.

ډیری د بایومتریک اسکنرونه او د رأیې ورکونې برقي دستګاوې داسې دیزاین شوې چې باید د هغو صفحو سره تماس وشي. نو د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د هغو له جوړونکو څخه وغواړي ترڅو د دغو دستګاوو د خوندي پاکو لپاره لارښونې وړاندې کړي. که امکان ولري نو د ځیرې پېژندلو او ګوتو نښه کولو دستګاوې ښه د حل لار دی ځکه چې هغوي لاس وهلو ته اړتیا نه لري او لدې امله د ویروس د خپریدو او د توکو د منتن کیدو امکان کمیږي. د رأیې ورکونې برقي دستګاوې تنې سره باید لاس کیږدې ترڅو رأیه وکارول شي؛ ځکه نو اړوندې ادارې باید د هغو د پاک ساتلو لپاره لازمې لارې چارې زده کړي او ترځنګ یې د یو ځل کار له توکو کار واخلي ترڅو د ویروس د خپریدو خطر کم شي.

په پای کې دا چې د رأیې ورکوونکي د ګوتې نښه کولو لپاره د نه پاکیدونکي رنګ نه د استفادې په صورت کې، د ټاکنو د تنظیم ادارې باید رأیې ورکوونکي د خپلو لاسونو وینځلو ته تشویق کړي. او رأیې ورکوونکې باید مخکې لدې چې رنګ د هغوي په ګوته خپور شي خپل لاس و وینځي. د امکان په صورت کې اړوندې ادارې باید له داسې موادو څخه کار واخلي چې په مستقیم ډول ترې استفاده کیدای شي او اړتیا نشته چې د یو کس بل کس په لاس واخیستل شي. پدې کار سره د رأیې ورکوونکو او مسئولینو ترمینځ د تماس چانس کم کیږي[۴۸].

## د رایې ورکونې په ترځ کې مرسته کولو په اړه څرګندونې



په نیپال کې یو کس د یو رأیې ورکونکې سره د مرستې په حال کې، پداسې وختونو کې چې فیزیکي واټن مراعت کیدای نشي باید د ځان ساتنې له شخصي وسایلو څخه استفاده وشي.

یو شمیر رأیې ورکوونکي په تیره بیا معلول او بې وزله کسان ښایې د رأیې ورکونې په ترځ کې کمکي وسایلو یا د بل چا مرستې ته اړتیا ولري. که چیرې دغه کسان د کوشکې، د رأیې ورکونې لمسې لارښود یا نورو مرستهایز وسایلو ته اړتیا ولری؛ ترڅو په سرې او خپلواکه توګه خپله رأیه ورکاروي نو د دغو وسایلو د استفادې نه وروسته هر یوه وسیله باید په سمه توګه تعقیم شي. په ډیر قوي احتمال سره چې د مرستې د غوښتنې په وخت کې فیزیکي واټن مراعت کیدای نشي؛ ځکه نو دواړه خواوې هم رأیې ورکوونکي او هم مرسته کوونکي باید د ځان ساتنې له وسایلو لکه ماسک یا سپر څخه استفاده وکړي او د رأیې ورکونې دمخه او وروسته خپل لاسونه و مینځي.

## د تشنابو امکاناتو په اړه څرګندونې

د پراخو غونډو په ترځ کې د تشنابونو یا لاس وینځلو ځایونو امکانات ډیرې ستونزې رامنځته کوی؛ ځکه چې په داسې ځایونو کې د خلکو کنترول سخت دی او خلک هغه ځای ته د رفع حاجت لپاره ځي. هغه څوک چې ښه حالت و نه لري هم د ټوخې یا پرنجې په وخت کې تشناب ته ځي. نو د لاسونو د راحته وینځلو او ډیرو امکاناتو رامنځته کولو لپاره باید د لاس وینځلو ځایونه له اوبو او صابون سره او یا د محلول سره د محلاتو بهر جوړ شي او د خوندی استفاده شرایط باید تطبیق کړای شي. کلتوري حساسیتونو ته په کتو سره دا ځایونه په جلا شکل جوړیدای شي؛ ترڅو ښځینه و ته د مزاحمت مخه ونیول شي. در امکان په صورت کې د جنسیت نه پام کې نیولو مسئله هم باید مطرح شي. د شخصي حفظ الصحې مراعت کولو او لاس وینځلو لارښونو پوسترونه باید نږدې ځایونو کې نصب شي.

## د رأیې اچونې محل د امنیت په اړه څرګندونې

اوس مهال یو شمیر هیوادونه د رأیې ورکونې محلاتو د امنیت ساتلو او د ټاکنو په ترځ کې د عامه نظم د ساتلو لپاره د امنیتي ځواک نه استفاده کوي. د عامې روغتیا ناورین په ترځ کې د امنیتي ځواکونو دنده د رأیو ورکوونکو څخه د ډار له امله پیچلې کیږي او په احتمالي توګه د امنیتي ځواکونو او رأیې ورکوونکو ترمینځ د شخړو لامل

کېږي. دا څخړه هله پراخېږي کله چې هر څوک فکر وکړي چې کواکې هر څوک د بل چا د روغتیا لپاره کوابس دی. نو د ټاکنو د تنظیم اداري باید د داسې حالاتو پر وړاندې احتیاطي تدابیر ولري چې رأیې ورکوونکي او نوماندان له هغه څخه ناوړه ګټه پورته نه کړي. امنیتي ځواکونه باید د خطر د کمو د تدابیرو او د هغو د عملي کولو د څرنګوالي په اړه روزنه ترلاسه او پرته لدې چې ځان یا نور له خطر سره مخ کړي؛ دغه تدابیر عملی کړي. مهمه مسئله دا ده چې امنیتي ځواکونه د فیزیکي واټن د ساتلو او نورو لارښونو د تطبیق لپاره له روز زیاتي څخه کار واخلي.

## د بیکاره موادو په اړه څرګندونې

پداسې حال کې چې تر اوسه هیڅ داسې یو سند نشته چې د بیکاره موادو لکه د صحي موادو د ضایعاتو سره، د لاس وهلو په صورت کې کروناویروس انتقال کېږي؛ سر لدې هم تېول د استفادې وړ وسایل، شیان او سطحې او نور مواد لکه (قلم او محافظتي فلم) باید د ککړ موادو په توګه په پام کې ونیول شي او په سم شکل په قوطیو او کڅوړو کې تېول او لیرې واچول شي[۴۹]. د هر ډول ککړو موادو لرې کول باید د روغتیايي چارواکو د لارښونې پر اساس ترسره شي؛ د ټاکنو په ترڅ کې باید هر ډول اضافي مواد لکه کاغذی دستمالونه، دستکشې، ماسک، یو بار مصرفه قلمونه او نور بیکاره مواد باید په قوطیو او یا کڅوړو کې واچول شي او په مناسب ډول لرې واچول شي. د محلونو کارکوونکي او صفاکاران باید د دهغو موادو د راټولو په وخت کې له دستکشو او قوي ماسک څخه استفاده وکړی؛ ترڅو کثافات نږدی روغتیايي مرکزونو، د کثافاتو ځای او یا د موادو د تصفیه کولو ځای ته انتقال کړي. دا کار باید د روغتیايي چارواکو په مستقیمه لارښوونه ترسره شي.

## د رأیې ورکونې ورځو د تمدید په اړه څرګندونې

څرنګه چې پدې لیکنه کې د مخه ویل شوي، قطارونه او د رأیې اچونې محل نور پراونه کولای شي خلک د مستقیم تماس او یا له یو کس نه بل کس ته د تنفسی څاڅکو د انتقال خطر سره مخ کړی. په دغو پړاونو کې د فیزیکي واټن ساتل د خلکو د شمیر په کمولو سره، به سمه توګه کنترول کېدای شي؛ خو پدې شرط چې تېول د شرایطو وړ کسان د رأیې ورکونې د حق څخه استفاده وکولای شي. د قانوني مجوز په صورت کې د ټاکنو د تنظیم اداري کولای شي د رأیې ورکونې مودې تمدیدول په پام کې ونیسي؛ ترڅو هره ورځ د رأیې ورکوونکو لږ شمیر محلاتو ته راشي او خپله رایه وکاروي. د هرې ورځې د رأیې ورکوونکو په شمیر کې د انډول لپاره، د ټاکنو د تنظیم اداري کولای شي رأیې ورکوونکي د نوم او آدرس پر بنسټ تقسیم کړي.

"د فیزیکي واټن ساتل د افرادو د شمیر په کمولو سره په ښه توګه کنترول کېدای شي خو پدې شرط چې تول د شرایطو وړ کسان د خپل رأیې ورکولو له حق نه استفاده و کولای شي."

## د ناسوبې، پُستي او ایمیل له لارې د رأیې ورکونې په اړه څرګندونې

په هغه هیوادونو کې چې قانوني چوکاټ اجازه ورکوي د رأیې اچونې په ترڅ کې د اوږدو قطارونو او د ویروس خپریدو خطر نه د مخنیوی یو لاره د ایمیل، پُست له لارې رایه ورکول دي. سره لدې چې د رأیې ورکوونکو او ټاکنیزو چارواکو د اخته کېدو خطر لدې لارې ډېر کم دي، د ټاکنو د تنظیم اداري باید یو شمیر عوامل په پام کې ونیسي. د بېلګې په توګه: ویروسونه او د ناروغیو د رامینځته کولو نور عوامل کولای شي د شیانو او سطحو د نوعیت او جنسیت پر بنسټ په مختلفو مودو دوام راوړي. پدې معنا چې یو شمیر د رأیو یا پاکټونو کې د اوږدې مودې لپاره پاتې شي او د ټاکنو کارکوونکي چې دغه رأیې ترلاسه او پروسس کوي پر ویروس ککړ شي. یوه نوې څیړنه ښیې چې کروناویروس کولای شي د کاغذ پرمخ له دری تر پنځو ورځو دوام راوړي. حتی که د اوږدی مودې لپاره هم فعال پاتې شي د ناروغی لامل کېدو اندازه یې د اصلي ویروس ۰,۱ سلنه وي[۵۰]. ځکه نو رأیې ورکوونکي باید د رأیې اچونې وروسته خپل لاسونه په سمه توګه تعقیم کړی او له ځانګړو سرېښن لرونکو پاکټونو څخه کار واخلي او یا پاکټ د مرطوب اسفنج په ذریعه سرېښن کړی نه د خولې په لعابو سره؛ چې کېدای شي دا کار د ویروس د انتقال سبب شي او بله لار دا چې هغه موادو سره د پنځو ورځو لپاره لاس و نه وهل شي.

## د رأیو شمیرنه او د پایلو مدیریت

## د رأیې اچونې محل د رأیو شمیرنې په ترڅ کې د رأی پاڼو د تنظیم او فورمو د جمع بندی په اړه څرګندونې

په ډېرو هیوادونو کې د پایلو د شمیرنې بهیر په لاسې ډول د رأیې اچونې په محلانو کې ترسره کېږي. وروسته بیا د محلونو د پایلو فورمې د ټاکنیزې حوزې په کچه راټولیږي او د ټاکنو پایلې د راپور ورکونې مامور لخوا اعلانیږي. نور هیوادونه بیا د رأیې اچونې په محلاتو کې د رأیې ورکونې الکترونکي دستګاوو د مستقیم ضبط څخه کار اخسیتل کېږي؛ چې رأیې په اتومات ډول محاسبه کېږي او پایلې د جمع بندی او تصدیق لپاره مرکزي دفتر ته انتقالیږي. په یو شمیر مواردو کې رأیې ورکوونکې د رأی پاڼو پرمخ نښه کولو ته ترجیح ورکوي چې بیا هغه اسکن او پروسس کېږي.

د رأیې اچونې محلاتو د کارکوونکو د خوندیتوب څخه د ډاډ بخاطر باید د رأیې اچونې محلاتو د لاسي رای شمیرنې په بهیر کې یو لړ بدلونونه رامینځته شي.  یو له دغو څرګندونو څخه د رأیې شمیرنې میز لپاره د اړتیا وړ واټن په پام کې نیول دي؛ همدا راز د کنترول کوونکو ترمینځ د فیزیکي واټن ساتل هم مهم بلل کیږي.  لدې امله چې څارونکي او د سیاسی ګوندونو استازي هم باید خپلې دندې د پایلو پدې حساسه پړاو کې ترسره کړي نو هره رایه پرته له تماس څخه هغوي ته ښکاره او بیا په خپل اړوند ځای کې کیښودل شي.  دا روش ړونتیا زیاتوي خو د شمیرنې سرعت کموي.  د ټولو رایو د شمیرنې او د هر محل د پایلی د تعیینولو وروسته، د پایلو د ثبتولو فورمې باید د یو شمیر چارواکو، د سیاسي ګوندونو د استازو، او څارونکو لخوا لاس لیک شي.  هر لاس لیک کوونکی باید له خپل قلم څخه کار واخلي او هر کس د فیزیکي واټن په پام کې نیولو سره فورمې لاس لیک کړي.

## د رأی پاڼو او نورو ټاکنیزو موادو د انتقال په اړه څرګندونې



*د رأیو شمیرنې په وخت کې د رأیې اچونې محل کارکوونکي د پایلو هره فورمه له لرې نه څارونکو او د ګوندونو استازو ته و ښیې*

ټاکنیز حساس مواد لکه د پایلو فورمې، د رأیې ورکوونکو نوم لړ او رأی پاڼې د رأیې اچونې محلونو څخه د جمع بندۍ او د پایلو د اعلان لپاره د ټاکنو مرکزي دفتر ته انتقالیږي.  دغه مواد معمولاً په روښانه پلاستیکي کڅوړو کې ځای پر ځای او وروسته بیا د رأیو په صندوقونو کې کیښودل کیږي او صندوقونه تړل کیږي.  د دغه موادو د لیږد په وخت کې د رأیې اچونې محلونو استازي، څارونکي، د ګوندونو استازي او همد راز پولیس لخوا بدرګه کیږي.  نو په نقلیه وسایلو کې د ټاکنیزو موادو د ځای پر ځای کولو په وخت کې باید ټول کارکوونکو ماسک ولري ترڅو د د ویروس د خپریدو خطر کم کړای شي.  د امکان په صورت کې د ټاکنو د تنظیم ادارې باید د مواد د انتقال په وخت کې د دوربین او جي پي اس څخه هم کار واخلي ترڅو څارونکي او د سیاسي ګوندونو استازی وکولای شي د مواد لیږد له لیرې هم کنترول کړي.

## د پایلو جمع بندۍ د پړاونو او ځایونو په اړه څرګندونې

د ټاکنو په مرکزي دفترونو کې د پایلو د جمع کولو د ځانګړو عملیاتو لکه د پایلو ترلاسه کولو، پروسس، جمع کولو او همدا راز د محلاتو څخه د رالیږل شویو ټاکنیزو موادو د ذخیره کولو لپاره اکثرا یو زیات شمیر کارکوونکو ته اړتیا لیدل کیږي.  کله د امنیتي ځواکونو زیات شمیر ته هم اړتیا لیدل کیږي.  خو په عمومي توګه د پایلو د مدیریت په ټولو پړاونو د فیزیکي واټن ساتل ډیر مهم دي.  د رأیې ورکونې محلاتو کارکوونکي د تسلیمي مامور ته د موادو د تسلیمي په وخت کې له معطلي سره مخ کیږی؛ چې دا کار په خپله د قطارونو د رامینځته کیدلو باعث ګرځې.  د موادو د ارونې وروسته، کارکوونکي هغه مواد تصدیق کوونکو ته انتقال وي. او کله چې هر څه ثبت او حساب شول، مواد د واقعي جمع بندۍ دمخه په لنده توګه څیړل کیږی.  کله چې پایلې په پای کې جمع او معتبره پیژندل کیږی، د پایلو فورمې لاس لیک او اسکن کیږی او د ټاکنو د تنظیم ادارو مرکزي دفتر ته استول کیږي.  په یو شمیر مواردو کې د پایلو د جمع کولو لپاره د آنلاین سیستم څخه کار اخیستل کیږي.  هر یو د دغو پړاونو د څو کاغذی فورمو ارزونې او لاس لیک ته اړتیا لري.  همدا راز د ارقامو د ثبت لپاره کمپیوټر، د پایلو انتقال ته اسکنر او د څارونکو او مشاهدینو او سیاسی ګوندونو استازو  ته د پایلو نمایش ته پروجکتور ته هم اړتیا شته.  په ټولو دغو پړاونو کې باید پورتنې روغتیایي سپارښتنې د فیزیکي واټن د ساتلو لپاره د لاسونو د منځلو لپاره او د ځان ساتنې د وسایلو د کارولو لپاره عملی شي.

## څارنه او د کیفیت کنترول

د ټاکنو د تنظیم ادارې باید خپل د څارنې او ارزونې فعالیتونه د کروناویروس خپریدو د خطر کمولو په اړه د پلې شویو روشونو په څرنګوالي متمرکز کړي.  د هرې پیښې، په ځانګړي توګه د ټاکنو ورځې د څارنې لپاره باید د چارواکو لخوا یو چک لست جوړ او تنظیم شي.  د امکان په صورت کې په چک لست کې ثبت شوي ارقام د نقطهای کنټرول میتود په کارولو سره د لوړ پوړو سوپروایزرانو لخوا تصدیق شي.  پدې توګه د فعالیتونو مطابقت په منظم ډول ارزول کیږي او هغه ارقام چې په مرکزي کچه راټول شوي ترڅو په سیستم کې د تشو د پیژندلو لپاره ورکارول شي؛ د راتلونکو لویو پیښو لپاره، ښه درسونه وړاندې کوي.

که څه هم دا امکان نه لرې چې پدې پوه شو چې د کروناویروس پر وړاندې پلې شویو د خطر د کمولو میتودونو د څومره نویو پیښو مخه نیولې ده؛ خو د ناروغۍ نویو پیښو ته په کتو سره چې د ټاکنو وروسته د ۱۴ورځو په موده رامینځته کیږي، د خطر د مخنیوي لپاره د عملي شویو روشونو اغیزمنتوب په ډاګه کوي.

## ماخذونه


۱. پر ټاکنو د کروناویروس نړیواله اغیزه. (۲۰۲۰ کال مارچ ۲۰ نېټه). منبع: https://www.ifes.org/publications/global-impact-covid-19-elections

۲. د رأیې ورکوونکو د کډون کچه، ډار، ضد او نقیص معلومات او د تدارکاتو پرېښوې کړی؛ لیکوال Buril, F. Darnolf, S.: د ټاکنو تنظیم اداري څه د COVID-19 په مقابل کې تیار ندي. (۲۷ مارچ ۲۰۲۰). IFES. منبع: https://www.ifes.org/news/low-voter-turnouts-fear-disinformation-and-disrupted-supply-chains

۳. په شیکاګو کې د رأیې ورکوني محل کارکوونکې د مرینې وروسته او د COVID-19 مثبت آزمایښت په نورو کې، ښاروال خلکو ته د ویروس د خپریدو ګواښ وکړ. منبع: https://www.chicagotribune.com/coronavirus/ct-chicago-poll-worker-dies-covid-cornavirus-20200413-rz55vqpo6jfbxn7e4i6vkj6n2y-story.html

۴. د کروناویروس د خپریدو څرنګوالی چې د COVID-19 لامل کرځي: د شخصي ځان ساتنې د تدابیرو پایلې. د روغتیا نړیوال سازمان. منبع: https://www.who.int/news-room/commentaries/detail/modes-of-transmission-of-virus-causing-covid-19-implications-for-ipc-precaution-recommendations

۵. د کروناویروس د خپریدو څرنګوالی د ۲۰۲۰ اپریل ۱۳. د امریکا د ناروغیو د کنترول او مخنیوي مرکز. منبع: https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/prevent-getting-sick/how-covid-spreads.html

۷. تعریفونه: بیړني حالات د ۲۰۱۴ د نوامبر ۱۷ د روغتیا نړیوال سازمان. منبع: https://www.who.int/hac/about/definitions/en/

۸. له ناروین سره مبارزه: د ناروغیو، تروریزم او آشوبونو مدیریت. Springfield: Charles C. Thomas.

۹. Marisam, J. (2010). د ۱۹۱۸ کال ټاکنو په اړه قضاوت. د ټاکنو قانون ژورنال. 9(2), 141-152.

۱۰. لیدلوری: ټاکنې او COVID-19 – موږ له ایبولا څه زده کړل. منبع: https://www.devex.com/news/opinion-elections-and-covid-19-what-we-learned-from-ebola-96903

۱۱. د کرونا په دوران کې څنګه د نړۍ لومړې ټاکنې بریالي شوې. نیویارک تایمز. منبع: https://www.nytimes.com/2020/04/16/opinion/south-korea-election-coronavirus.html

۱۲. Taylor, D. B. (2020, April 28). د کروناویروس څنګه خپور شو. د نیویارک تایمز سرلیک. مبنع: https://www.nytimes.com/article/coronavirus-timeline.html

۱۳. د یو رسنیزې ناستې په ترڅ کې د COVID-19 په اړه د روغتیا نړیوا ل سازمان د عمومي مشر څرګندونې، ۲۰۲۰ مارچ ۱۱. مبنع: https://www.who.int/dg/speeches/detail/who-director-general-s-opening-remarks-at-the-media-briefing-on-covid-19---11-march-2020

۱۴. کروناویروس څه شی دی. د روغتیا نړیوال سازمان. سریلانکا. مبنع: https://www.who.int/docs/default-source/inaugural-who-partners-forum/coronavirus-poster-english-srilanka.pdf?sfvrsn=289dedc3_0

۱۵. د کرونا ناروغي نښې. د امریکا د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکز: https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/symptoms-testing/symptoms.html

۱۶. موږ د ویروس د پټ ښېر په اړه په څه پوهیږو؟ مبنع: https://www.npr.org/sections/goatsandsoda/2020/04/13/831883560/can-a-coronavirus-patient-who-isnt-showing-symptoms-infect-others

۱۷. متن خو بې نښو. د کروناویروس پټ خپرونکي. نیویارک ټایمز مبنع: https://www.nytimes.com/2020/03/31/health/coronavirus-asymptomatic-transmission.html

۱۸. د کرونا نوی ویروس: ډیرې پوښتل شوې پوښتنې. مبنع: https://preparedness.columbia.edu/news/2019-novel-coronavirus-frequently-asked-questions

۱۹. د کرونا نښې نښانې. مبنع: https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/symptoms-testing/symptoms.html

۲۰. د COVID-19 ویروس د خپریدو څرنګوالی. د شخصي ځان ساتنې د سپارښتنو پایلې. مبنع: https://www.who.int/news-room/commentaries/detail/modes-of-transmission-of-virus-causing-covid-19-implications-for-ipc-precaution-recommendations

۲۱. کروناویروس څرنګه خپریږي؟ د ۲۰۲۰ د اپریل ۱۳ مبنع: https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/prevent-getting-sick/how-covid-spreads.html

۲۲. پر منتنو سطحو د کروناویروس دوام او د بیولوژیکي محلول په ذریعه د هغو غیرفعال کیدل: مبنع: *J Hosp Infect*. 2020;104(3):246–251. doi:10.1016/j.jhin.2020.01.022. په ګرمه هوا کې د ویروس دوام.

۲۳. خلکو ته سپارښتنې. د روغتیا نړیوال سازمان. مبنع: https://www.who.int/emergencies/diseases/novel-coronavirus-2019/advice-for-public

۲۴. فیزیکي واټن، ګرځبندیز و بیلول ۲۰۲۰ کال د اپریل ۴. د امریکا د ناروغیو د کنټرول او مخنیوی مرکز: https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/prevent-getting-sick/social-distancing.html

۲۵. د ګاز وریځې او د پاتوژن خپریدل: د COVID-19 خپریدو کموالی پایلې..Bourouiba, L. (2020).

۲۶. د توخې او تنفسي حفظالصحې په اړه تکراري پوښتنې. د ویرجینیا روغتیا ریاست: https://www.vdh.virginia.gov/content/uploads/sites/3/2016/01/RespiratoryHygieneCoughEtiquette_FAQ.pdf

۲۷. د اجباري لاس وینځلو لپاره سپارښتنې او د COVID-19 خپریدل. د روغتیا نړیوال سازمان. مبنع: https://www.who.int/who-documents-detail/interim-recommendations-on-obligatory-hand-hygiene-against-transmission-of-covid-19

۲۸. د لاسونو تعقیم. د روغتیا نړیوال سازمان. مبنع: https://www.who.int/csr/resources/publications/ebola/hand-hygiene/en/

۲۹. د SARS-CoV-2 پر وړاندې تعقیم کوونکي. ۲۴ اپریل ۲۰۲۰. مبنع: https://www.epa.gov/pesticide-registration/list-n-disinfectants-use-against-sars-cov-2

۳۰. په کرونا ویروس د حرارت درجې او رطوبت اغیز. Chan, K. H., Peiris, J. S., Lam, S. Y., Poon, L. L. M., Yuen, K. Y., & Seto, W. H. (2011).

۳۱. د ټاکنو د ځندولو د قانوني اړخونو په اړه بحث په بله لیکنه کې څیړل کیږي. د ټاکنو ښېر د اصلاح یا ځنډولو لپاره قانوني او اساسي څرګندونې

۳۲. د ټاکنو د بدلون او ځنډولو کې ماتې. ۲۰۲۰ کال د اپریل ۱۴ IFES: منبع: https://www.ifes.org/news/legal-quagmire-postponing-or-modifying-elections

۳۳. آیا COVID-19 په ګرمې هوا کې ورک کیږي؟ د ساري ناروغیو مرکز. منبع: https://ccdd.hsph.harvard.edu/will-covid-19-go-away-on-its-own-in-warmer-weather/

۳۴. د COVID-19 لپاره نړیواله څارنه لنډ مهاله لارښونه. (۲۰۲۰ کال مارچ ۲۰). د روغتیا نړیوال سازمان. منبع: https://apps.who.int/iris/bitstream/handle/10665/331506/WHO-2019-nCoV-SurveillanceGuidance-2020.6-eng.pdf

۳۵. د تنفس وسایل د کروناویروس لپاره مهم عنصر. منبع: https://www.npr.org/2020/03/06/812789168/respirators-key-to-coronavirus-battle-but-they-must-be-worn-correctly

۳۶. د کروناویروس خپریدو د کموالی لپاره د ماسک اغوستل. (۲۰۲۰ د اپریل ۱۳) د امریکا د ناروغیو د کنټرول او مخنیوی مرکز. منبع: https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/prevent-getting-sick/diy-cloth-face-coverings.html

۳۷. بنایې دستکشې تاسی د کروناویروس د اخت کیدو څخه و نه ساتي. منبع: https://www.health.com/condition/infectious-diseases/coronavirus/should-you-wear-gloves-to-the-grocery-store

۳۸. ولی په مغازو کې د دستکشو اغوستل د کروناویروس سره مبارزه نشي کولای؟ منبع: https://nypost.com/2020/04/22/why-wearing-gloves-to-the-grocery-store-isnt-fighting-coronavirus/

۳۹. یو شمیر هیوادنه حرارت سنج د کروناویروس د کنټرول لپاره کاروي. واشنګټن پوست. منبع: https://www.washingtonpost.com/world/coronavirus-temperature-screening/2020/03/14/24185be0-6563-11ea-912d-d98032ec8e25_story.html

۴۰. COVID-19 یوه یا دوې ورځې وړاندې اخته شوی وی. منبع: https://www.sciencenews.org/article/coronavirus-covid-19-infection-contagious-days-before-symptoms-appear

۴۱. د عکس سربیره،د نوماندانو د نوم لیکنې بهیر، د امضا راټولول او نوماندانو ته د مصارفو بیرته ورکړه

۴۲. د COVID-19او ناسمو معلوماتو په اړه یوه ارزونه پدې بسته کې وړاندې شوې

۴۳. د زده کړای شویو درسونو په کارولو سره د روزنیزو موادو جوړول. Health Literacy. *Journal of Extension*, 53(4), n4.

۴۴. د ملي ټاکنو نوم لیکنه څنګه ترسره کیږي؟ منبع: https://www.idea.int/data-tools/question-view/735

۴۵. د هویت اسناد د ساده کتابچو، لنډ مهاله د پیژندنې کارتونو په شمول. په یو شمیر هیوادونو کې لکه زیمبابوه، د پیژندنې کارتونه له فلز څخه جوړیږي.

۴۶. د وسایلو جوړونکو تو پیریدونکو د د دستګاوو د پاکولو لپاره لارښونې. امریکا د ټاکنو څخه د ملاتړ کمیسیون. منبع: https://www.eac.gov/election-officials/vendor-and-manufacturer-guidance-cleaning-voting-machines-and-other-election

۴۷. د کروناویروس د خپریدو له امله د اوهایو د ټاکنو هیئت د رأیې اچونې مرکزونو د کارکوونکو په لټه کې ول. (۲۰۲۰ مارچ ۱۲) منبع: https://www.dispatch.com/news/20200312/ohio-elections-boards-frantically-seeking-poll-workers-due-to-coronavirus-outbreak

۴۸. د آنلاین اعتبار لیک ترلاسه کولو لپاره د افغانستان د ۲۰۱۹ کال د ولسمشری ټاکنو برخه وکورئ. لاسرسی ۲۰۲۰ کال د اپریل ۱۹

۴۹. د نه پاکېدونکي رنګ د خطر د کمولو په اړه نور جزئیات د IFES په لیکنه کې موندلی شي. د COVID-19 خپریدو د خطر کمول. مبنع:

https://www.ifes.org/news/indelible-ink-elections-mitigating-risks-covid-19-transmission-while-maintaining-effectiveness

۵۰. اوبه، حفظ الصحه او د اضافي موادو مدیریت. د COVID-19: لندمهاله لارښونه. ۲۰۲۰ کال مارچ ۱۹. د روغتیا نړیوال سازمان مبنع:

https://apps.who.int/iris/handle/10665/331499